د افغانستان اسلامي جمهوریت


د پوهنې وزارت

د لیک لوست زده کړې معینیت

## د لیک لوست زده کړې زده کوونکو د

# ارزونې لارښود

دویم چاپ له نویو زیاتونو سره




Download from:aghalibrary.cm

چاپ کال: مرغومی ۱۳۹۳

بسم الله الرحمن الرحیم

## سریزه

د اساسي قانون د ۴۳ او ۴۴ مادو پر بنسټ زده کړه د افغانستان د ټولو اوسیدونکو برابر حق دی. نو ځکه د نالوستوالي له منځه وړلو د پاره اړتیا ده چې د لیک لوست زده کړي ګټور، اغیزمن او مساوی پروګرامونه په ټول هیواد کې په لاره واچول شي. دې موخې ته د رسیدلو لپاره د پوهنې وزارت د ملی ستراتیژۍ پلان او لیک لوست زه کړو معینیت عملیاتي پلان پر بنسټ، ټولو اړو خلکو ته خدمتونه چمتو او وړاندې شي.

د دې لپاره چې د لیک لوست د کیفیت څخه ډاډه شو اړتیا ده چې د لیک لوست زده کړې معینیت د فعالیتونو د ښه مدیریت لپاره د څارنې، معلوماتو راټولونې، راپور ورکولو اود زده کوونکو ارزونې په برخو کې هر اړخیز او معیاري سیستم ولري، او همداراز د څارنې مسلکی غړي، د لیک لوست زده کړي اړوند کارکوونکي او همکار موسساتو ته په نوموړو برخو کې روزنه ورکړي.

د پورته بنسټیزو اړتیاوو پوره کولو لپاره، د لیک لوست زده کړي معینیت د جاپان نړیوالي مرستندویي اداري (جایکا) سره یو ځای "په افغانستان کې د لیک لوست د پیاوړتیا ملاتړې پروژه" (لیف۲) د ۲۰۱۰ کال د اپریل په میاشت کې پیل کړه. دا ګام د "لیف پروژی لومړی پړاو " د فعالیتونو په تعقیب چې ۲۰۰٦ تر ۲۰۰۸ کالو کې په بریالیتوب سره پلی شوي وه، ترسره شو.

د لیف۲ پروژې اساسې موخې د لیک لوست زده کړی فعالیتونو باکیفیته پرمختګ لپاره د څارنې او تخنیکی مرستو په برخه کي د اداری ظرفیتونو پیاوړی کول دی، چې په څلورو برخو کې په لاندې توګه خلاصه شوي:

۱- د څارنې او تخنیکی مرستو کاری چوکاټ ته پراختیا ورکول چې د لیک لوست زده کړی ټول کورسونه ترپوښښ لاندې ونیسی.
۲- د کورس د پای ته رسیدو څخه وروسته د زده کوونکو د لاسته راوړنو د ارزونې لپاره مواد جوړول.
۳- د راپور ورکوونی او معلوماتو شریکولو معیارونوته پراختیا ورکول او تطبیق کول یې.
۴- د تخننیکی مرستو معیارونه جوړول او پراختیا ورکول.

د لیک لوست زده کړې زده کوونکو د ارزونې په برخه کې د دوه اړخیزو ناستو څخه وروسته پریکړه وشوه چې د ټولو ښوونکو لپاره د زده کوونکو د ارزونی معیاری پوښتنو او لارښود د لیف۲/جایکا پروژې په مالي او تخنیکي مرسته جوړ شي.

اړینه دی چې د لیک لوست زده کړې د پخوانیو معین صاحبانو ښاغلی سید محمود خلیق، محمد سرور حسیني، داکتر محمد علی ستیغ، محمد همایون رسا، د لیک لوست زده کړې معینیت د مسلکي ګروپونو غړیو، د لیف۲ جاپانې او افغان کارکوونکو د نه ستړې کیدونکو هلو ځلو څخه د زړه له کومی مننه وکړم.

ډاډه یم چې د زده کوونکو د ارزونې دا معیاري پوښتنې او لارښود کتاب ټولو ښوونکو، د لیک لوست معینیت اړوندو مسؤولینو، د لیک لوست زده کړې آمریتونو، مدیریتونو او اړوندو ادارو لپاره چې د لیک او لوست په فعالیتونو کې مرسته او ونډه لري ګټور وي.

محمد عظیم کربلایی

د لیک لوست زده کړې معین

## د لیک لوست زده کړې پروګرامونو د څارنې کارې چوکاټ

د لیک لوست زده کړې معینیت او لیف۲ پروژې د اپریل ۲۰۱۰ کال څخه د لیک لوست زده کړې مدیریت د لاښه کولو برخه کې فعالیت درلود او لاندنی لاربښود کتابونو ته یې پراختیا ورکړه:

- د څارنې لاربښود
- د لیک لوست زده کړې د کورسونو احصاییوی فورمونو لاربښود
- د لیک لوست زده کړې د زده کونکو د ارزونی لاربښود

پورته پراختیا ورکړل شوي لاربښود کتابونه د ځانګړو فورمونو په لرلو سره، د لیک لوست زده کړې څارونکو، اړونده کارکونکو، او ښوونکو سره مرسته کوی ترڅو د لیک لوست زده کړې څارنیزې چارې لا ښې کړې.

د څارنی لاربښود د څارونکو لپاره لیکل شوي ترڅو وکولای شي د لیک لوست زده کړو له ټولګیو څخه اغیزمنه څارنه ترسره کړې. په دې لاربښود کې د څارنی بنسټیز مفاهیم، د څارنې عملي کړنې، د لیک لوست د ښوونیزه فعالیتونو د لا ښه والی لپاره د څارنې د پایلو کارولو څرنګوالی ته ځای ورکړل شوي دي.

دلیک لوست زده کړې د کورسونو د احصاییوی فورمونو لاربښود د لیک لوست زده کړې کارکوونکو لپاره چمتو شوی ترڅو وکولای شی د لیک لوست زده کړې کورسونو څخه احصاییوی معلومات په ټاکلي وخت را ټول کړي. په نوموړې لاربښود کې د احصاییوی معلوماتو راټولولو بیلابیلو فورمونو او د کارولو څرنګوالی په اړه یې بشپړ توضیحات ورکړل شوي دي.

د لیک لوست زده کړې د زده کونکو د ارزونی لاربښود د لیک لوست زده کړې ښوونکو لپاره لیکل شوی ترڅو وکولای شی د لیک لوست زده کونکو لاسته راوړنی په اغیزمنه توګه وارزوی، همدارنګه نوموړی لاربښود څارونکو لپاره ډیر مهم دی ترڅو وکولای شی د زده کونکو لاسته راوړنی او پرمختګونو باندی وپوهیږی. په نوموړی لاربښود کې د پوښتنو څلور فورمونو او د ارزونی د پایلو د ثبت دوه جدولونو سربیره د هغوی د کارولو څرنګوالی په هکله یی بشپړ معلومات ورکړل شوي دي.

د څارنې لاربښود د لیک لوست زده کړې د ټولکیو څخه د څارنې په کیفی اړخ باندی تمرکز لری، د لیک لوست زده کړې د کورسونو د احصاییوی فورمونو لاربښود د کمی ارقامو د را ټولو لپاره کارول کیږی اود زده کوونکو د ارزونې لاربښود د زده کوونکو د پوهې کچو معلومولو اړخ باندې تمرکز لري. پورته یاد شوی اړخونه مهم او یو بل سره نه شلیدونکی تړاونه لري، ترڅو څارنیزې کړنې وکولای شی دلیک لوست زده کړې فعالیتونه لا ښه کړی. نو له دی امله کولای شو د نوموړو لاربښودونو څخه په ګډه اخیستنی سره د لیک لوست زه کړې د ټولو اړخونو څخه روڼ انځور ولرو. پورته یاد شوي لاربښودونه د بیلابیلو فورمونو په لرلو سره د اغیزمنی څارنې ترسره کولو لپاره چمتو شوی ترڅو لوستونکی په ټولو څارنیزو کړنو باندې بر لاسی وي.

"**د لیک لوست زده کړې پروګرامونو د څارنی چوکاټ- د څارنې د فورمونو لیست**" په راتلونکي مخ کې وګورئ.

## د لیک لوست زده کړې پروګرامونو د څارنې کاري چوکاټ - د څارنې فورمونو لیست -

### د لیک لوست زده کړې فعالیتونو د څارنې فورمو لیست

| ګڼه | د فورمو ډول | راټول شوي معلومات | اصلي موخه | څه وخت | چاته راپور ورکړل شي | مرجع (سرچینه) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د کلني پلان شکل | د ولسوالی د مدیریت څارونکي | د لیک لوست زده کړې فعالیتونو په ځانګړې توګه د لیک لوست زده کړې ټولګیو د څارنې لپاره کلني پلان جوړول. | د ښوونیز کال په پیل کې | د ولسوالي مدیر ته او یوه کاپی د ځان سره وساتئ | د څارنې لارښود ۳ - ۱ څپرکی |
| ۲ | د میاشتې پلان شکل | د ولسوالی د مدیریت څارونکي | د لیک لوست زده کړې فعالیتونو په ځانګړې توګه د لیک لوست زده کړې ټولګیو د څارنې لپاره میاشتني پلان جوړول. | د هرې میاشتې په پیل کې | د ولسوالي مدیر ته او یوه کاپی د ځان سره وساتئ | د څارنې لارښود ۳ - ۱ څپرکی |
| ۳ | د اونیز (هفته وار) پلان شکل | د ولسوالی د مدیریت څارونکي | د لیک لوست زده کړې فعالیتونو په ځانګړې توګه د لیک لوست زده کړې ټولګیو د څارنې لپاره هفته وار پلان جوړول. | د هرې اونی په پیل کې | د ولسوالي مدیر ته او یوه کاپی د ځان سره وساتئ | د څارنې لارښود ۳ - ۱ څپرکی |
| ۴ | د لیك لوست زده کړی ټولګیو د څارنې فورمه | د مدیریت څارونکي | د لیک لوست زده کړې ټولګیو څخه باقاعده توګه څارنه کول تر څو ښوونکو او زده کوونکو سره د څارنې پایلې شریک کول او د لیک لوست زده کړو په بهیر کې د تدریس د لاښه والي په اړه اړین ګامونه اوچتول. | د څارنې د پلان سره سم د لیک لوست زده کړې کورسونو څخه د څارنې په بهیر کې | د لیک لوست زده کړې مدیریت | د څارنې لارښود ۴ - ۲ څپرکی |
| ۵ | د څارنې د پایلو میاشتنی کیفی راپور (د ولسوالی د لیک لوست زده کړې مدیریت څخه د ولایت د لیک لوست زده کړې آمریت ته) | د لیک لوست زده کړې مدیریت | د هر څارونکي د څارنې د پایلو توحیدول د لاندې موخو لپاره: ۱) څارونکو ته نظریاتو ورکول ۲) د ولسوالی په کچه د کورسونو په حقیقی وضعیت پوهیدل، ۳) د لیک لوست زده کړې آمریت ته راپور ورکول ترڅو د لیک لوست زده کړې د وضعیت د لاښه والی لپاره اړین ګامونه اوچت کړي . | د هرې میاشتی په پای کې | د لیک لوست زده کړې آمریت | د څارنې لارښود ۴ - ۳ څپرکی |
| ۶ | د څارنې د پایلو میاشتنی کیفی راپور (د ولایت د لیک لوست زده کړې آمریت څخه د لیک لوست زده کړې معینیت ته) | د لیک لوست زده کړې آمریت | د هر څارونکي د څارنې د پایلو توحید د لاندې موخو لپاره: ۱) څارونکو ته د نظریاتو ورکول ۲) د مربوطه ولایت د ټولو ولسوالیو د کورسونو په حقیقی وضعیت پوهیدل، ۳) د لیک لوست زده کړې معینیت ته راپور ورکول ترڅو د لیک لوست زده کړې د وضعیت د لاښه والی لپاره اړین ګامونه اوچت کړي . | د هرې میاشتی په پای کې | د لیک لوست زده کړې معینیت (د څارنې او ارزونې آمریت) | د څارنې لارښود ۴ - ۴ څپرکی |
| ۷ | د راپور ورکولو شکل | د لیک لوست زده کړې آمریت/د ولسوالی مدیریت | د فعالیتونو د عمومي پلان د لاسته راوړنو، ستونزو او حل لارو راپور ورکول. | در آخر هر (هفته، ماه، ربع ، نصف سال و سال) | د لیک لوست زده کړې آمر/معینیت (د څارنې او ارزونې آمریت) | د څارنې لارښود ۳ - ۱ څپرکی |

| د لیک لوست زده کړې فعالیتونو د احصایوی معلوماتو راټولو د فورمو لیست | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | د فورمو ډول | راټول شوي معلومات | اصلي موخه | څه وخت | چاته راپور ورکړل شي | مرجع (سرچینه) |
| ۸ | د ځارنې د احصاییوي معلوماتو د راټولولو میاشتنۍ فورمه | د ولسوالی د لیک لوست زده کړې نظارت کوونکي | د لیک لوست زده کړې د هر کورس او په ټولګي کې د زده کوونکو د شمیر په اړه د میاشتني معلوماتو راټولول تر څو د لیک لوست زده کړې د هر ټولګی په حقیقي وضعیت پوه شی. | په هره میاشت کې | نظارت کوونکي یې د ځان سره ساتي | 3.3- د څارنې د غړو د میاشتنۍ د احصاییوي معلوماتو د راټولولو فورمې لارښود |
| ۹ | د څارنې د احصاییوي معلوماتو د راټولولو ربعوار فورمه | د ولسوالی د لیک لوست زده کړې نظارت کوونکي | په هره ربع کې د څارنې د میاشتنې احصاییوی فورمو د معلوماتو توحیدول او د لیک لوست زده کړې مدیریت ته یې را پور ورکول. | د هرې ربعې په پاي کې | د ولسوالی د لیک لوست زده کړې مدیر | 4.3- د څارنې د غړو د ربعوار فورمې (د احصاییوي معلوماتو د راټولولو) لارښود |
| ۱۰ | د لیک لوست زده کړې آمریت ته د مدیریت څخه(د احصاییوي معلوماتو د راټولولو) ربعوار فورمه | د ولسوالی د لیک لوست زده کړې مدیر | د لیک لوست زده کړې آمریت ته د لیک لوست زده کړې د وضیعت د راپور ورکولو لپاره د ټولې ولسوالي د لیک لوست زده کړې د ټولګیو د معلوماتو توحیدول | د هرې ربعې په پاي کې | د ولایت د لیک لوست زده کړې آمر | 5.3- د لیک لوست زده کړې د مدیریت (د احصاییوي معلوماتو د راټولولو) د ربعوار فورمې لارښود |
| ۱۱ | د لیک لوست زده کړې معینیت ته د ولایت<br>د لیک لوست زده کړې آمریت څخه (د احصاییوي معلوماتو د راټولولو) ربعوار فورمه | د ولایت د لیک لوست زده کړې آمریت د احصایې او پلان کارکوونکي | د لیک لوست زده کړې معینت د احصایې او پلان عمومي مدیریت ته د لیک لوست زده کړې د وضیعت د راپور ورکولو لپاره د ټول ولایت د لیک لوست زده کړې د ټولګیو د معلوماتو توحیدول | د هرې ربعې په پاي کې | د لیک لوست زده کړې معینیت د پلان او احصایې عمومې مدیریت | 6.3- د لیک لوست زده کړې د آمریت (د احصاییوي معلوماتو د راټولولو) د ربعوار فورمې لارښود |
| ۱۲ | د نادولتي موسساتو د (احصاییوي معلوماتو د راټولولو) ربعوار فورمه | نا دولتي موسسې | د لیک لوست زده کړې برخه کې د نا دولتي موسساتو د ټولو احصاییوی معلوماتو، حرفوی زده کړو، کلی بودیجې، لاسته راوړنو توحیدول اوپه هکله یې د لیک لوست زده کړې معینیت د پلان او احصایی عمومي مدیریت ته د لیک لوست زده کړې د ولسوالی د مدیریتو او د ولایت د آمریتونو له خوا راپور ورکول. | د هرې ربعې په پاي کې | د لیک لوست زده کړې آمر | 7.3- د نادولتي موسساتو (د احصاییوي معلوماتو د راټولولو) د ربعوار فورمې لارښود |
| ۱۳ | د لیک لوست زده کړې کورسونو د ثبت فورمه | ښوونکي | د ښوونکي ،د لیک لوست زده کړې د دوه کورسونو او د زده کوونکو په اړه هر اړخیز معلومات راټولول اود د ولسوالی د مدیریتو او د ولایت د آمریتونو له طریقه د لیک لوست زده کړې معینیت دNFE-MIS دفتر ته راپور ورکول(لیږل) | درې ځله<br>۱- د کورس په پیل<br>۲- د اساسی کتاب په پاي<br>۳- د مابعد کتاب په پاي | د ولسوالی د مدیریتونو او د ولایت د آمریتونو له طریقه د لیک لوست زده کړې معینیت دNFE-MIS دفتر ته | 8.3- لیک لوست زده کړې کورسونو د ثبت د فورمې لارښود |

## د زده کوونکو د ارزونې فورمو لیست


<table>
<tr><th>ګڼه</th><th>د فورمونو ډول</th><th>راټول شوي معلومات</th><th>اصلي موخه</th><th>څه وخت</th><th>چاته راپور ورکړل شي</th><th>مرجع (سرچینه)</th></tr>
<tr><td>۱۴</td><td>تشخیصی ارزونه</td><td>ښوونکي</td><td>۱. د زده کوونکو د لیک لوست زده کړې او ژوند د معلوماتو کچه په ټولګی کې د لوست له پیل څخه مخکې معلومول.<br>۲. ښوونکی د لوست ورکولو په وخت کې د ارزونې پایلې په پام کې نیسي او د زده کوونکو د پوهې او وړتیاوو د کچې سره سم د لوست فعالیتونه سموي.</td><td>د لیک لوست زده کړې کورس په پیل کې د نوم لیکنې څخه وروسته</td><td>ښوونکي پایله د ځان سره ساتي</td><td>د لیک لوست زده کړې زده کوونکو د ارزونې لارښود (۱ضمیمه)</td></tr>
<tr><td>۱۵</td><td>د زده کوونکو د تشخیصی ارزونې دپایلو د ثبت جدول</td><td>ښوونکي</td><td>د لیک لوست زده کړې کورس په پیل کې د زده کوونکو د مخکنیو معلوماتو، په لوستلو، ریاضی، لیکلو او د ژوند د نورو معلوماتو په برخو کې د سواد درجه ثبتول.</td><td>د پیل ارزونې د ترسره کولو په مهال</td><td>ښوونکی</td><td>د لیک لوست زده کړې زده کوونکو د ارزونې لارښود (۲ضمیمه)</td></tr>
<tr><td>۱٦</td><td>لومړی ارزونه<br>(اساسې کتاب)</td><td>ښوونکي</td><td rowspan="3">ښوونکي لپاره:<br>۱. د زده کوونکو د زده کړې وړتیاوو، ذهنیت او لاس ته راوړنو د کچې معلومول.<br>۲. د زده کوونکو د پوهې او وړتیاوو د کچې لوړولو او هغه ضعیفه زده کوونکو ته ډیر پام او مرسته چې تر نورو ورسته پاته دي.<br>۳. ښوونکی د ارزونې د پایلو څخه ځان ارزوي او د لوست په میتود کې پیاوړتیا او اغیزمنتوب زیاتوي.<br>د زده کوونکو لپاره:<br>۱. زده کوونکي د خپلې زده کړې کچه پیژني.<br>۲. زده کوونکي چې خپله د زده کړې کچه وپیژني نور هم خوښ او هڅول کیږي.<br>۳. د لومړی، دویمی او دریمې ارزونو برخو کې د نمرو اخیستل ترڅو وکولی شي تصدیق پاڼه ترلاسه کړي.</td><td>په کورس کې پس له ۵۴ لوست څخه</td><td>د زده کوونکو د تحریري ارزونې پاڼې ښوونکي د ځان سره ساتي.</td><td>د لیک لوست زده کړې زده کوونکو د ارزونې لارښود (۳ضمیمه)</td></tr>
<tr><td>۱۷</td><td>دویمه ارزونه<br>(اساسی کتاب)</td><td>ښوونکي</td><td>د اساسي کتاب په پای کې</td><td>د زده کوونکو د تحریري ارزونې پاڼې ښوونکي د ځان سره ساتي.</td><td>د لیک لوست زده کړې زده کوونکو د ارزونې لارښود (۴ضمیمه)</td></tr>
<tr><td>۱۸</td><td>دریمه ارزونه<br>(مابعد کتاب)</td><td>ښوونکي</td><td>د مابعد کتاب په پای کې</td><td>د زده کوونکو د تحریري ارزونې پاڼې ښوونکي د ځان سره ساتي.</td><td>د لیک لوست زده کړې زده کوونکو د ارزونې لارښود (۵ضمیمه)</td></tr>
<tr><td>۱۹</td><td>د لیک لوست زده کړې زده کوونکو د معیاري ارزونو د پایلو ثبتولو جدول</td><td>ښوونکي</td><td>د زده کوونکو د ارزونې پایلې، حاضر ورځو شمیر او فراغت درجه په کې ثبتول.</td><td>د لومړی، دویمې او دریمې ارزونې ترسره کولو څخه وروسته</td><td>د لومړی او دویمې ارزونې څخه وروسته ښوونکي سره ساتل کیږي او د دریمې ارزونې څخه وروسته څارونکي ته تسلیمیږي.</td><td>د لیک لوست زده کړې زده کوونکو د ارزونې لارښود (٦ضمیمه)</td></tr>
</table>

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د لیک لوست زده کړې معینیت

## د لیک لوست زده کړې زده کوونکو د

# ارزونې لارښود

**دویم چاپ له نویو زیاتونو سره**



چاپ کال: مرغومی ۱۳۹۳

**د ارزونې لارښود کتاب مؤلفين؛**

| | |
|---|---|
| پوهيالی تاج علی "صابر" | د ښوونيز نصاب د پراختيا رئيس. |
| بريالی "پکتا" | د ښوونيز نصاب د تحقيق، ارزونې او ژوند د وړتياوو د لوی مديريت علمې او مسلکې غړې. |
| جانان "ميرخيل" | د ښوونيز نصاب د تصحيح د لوی مديريت علمې او مسلکې تصحيح کوونکی. |
| الحاج محمد کريم "خراسانی" | د زده کوونکو او فارغانو لوی مدير |
| فاطمه "لطيف" | د ښوونيز نصاب د لوی مديريت علمي او مسلکي غړې او سرپرسته. |
| فضل احمد "فقيری" | د سيميزو زده کړو مرکزونو د مديريت مسلکي غړی. |
| عبدالرزاق "خوگيانی" | د لويديځ زون د څارنې لوی مدير. |
| صفدر نبی | د انکشافی پروژو د پلان مسلکې غړې. |
| محمد وحيد "وحيد" | د څارنې او ارزيابۍ آمريت مسلکي غړی. |
| ملالی "لودين" | د ښوونکي روزنې رياست سرمربي. |
| احسان الله "مدنی" | د ښوونيز نصاب د پراختيا او درسی کتابونو د تاليف آمر. |

**په افغانستان کې د ليک لوست زده کړې د پياوړتيا ملاتړې پروژې (ليف۲/جايکا) کاري ډله:**

| | |
|---|---|
| ضياالحق "جمال" | په افغانستان کې د ليک لوست زده کړې د پياوړتيا ملاتړې پروژې (ليف۲) د فعاليتونو همغږي کوونکې. |
| راضيه "جويا" | په افغانستان کې د ليک لوست زده کړې د پياوړتيا ملاتړي پروژې د همغږي کوونکي مرستياله. |

**ښوونې او روزنې برخه کې جاپاني کارپوهان:**

پروفيسور يوميکو اونو، ری کوارای، مدوکا موری، اوتاکو موريتا، سکيکو يماگوچی، هرومی سوکاهارا، آقای نيوکو ستو، اقای تکويا ساساکی.

**د ژبې ايډيټ:** بريالی پکتا

**کمپوز او رسامی:** اکبر "هاشمي"

## د زده کوونکو د ارزونې لاربښود او فورمونو په اړه په پرله پسې ډول پوښتل شوي پوښتنې

د ارزونې لاربښود او فورمونو په اړه د ازمايښتي روزنو (ټريننگونو) په بهیر کې ځينې ګډون کوونکو يو لړ پوښتنې په پرله پسې ډول کولې، نو له دې امله مو غوره وبلله چې ستاسو د معلوماتو لپاره يې د ځوابونو سره په لاندې توګه يادونه وکړو:

| شمیره | پوښتنې | ځوابونه |
|---|---|---|
| ۱ | د لومړی ارزونې د ترسره کولو ټاکلی وخت کوم دي ؟ | – د لومړی ارزونې د ترسره کولو ټاکلی وخت د اساسی کتاب د ۵۴ لوست له تدريس څخه وروسته دي.<br>د کلني درسی پلان په اساس يو ښوونکي بايد په لومړيو دريو مياشتو کې تر ۵۴ لوست پورې تدريس وکړي، مګر که يې ونشو کړای نو لمړی ارزونه دې تر هغې نه ترسره کوي چې ۵۴ لوست يې نه وي تدريس کړي. په همدې توګه دويمه او دريمه ارزونه هم بايد ترهغې ترسره نه شی ترڅو يې ټاکلی لوست نه وي تدريس کړي. |
| ۲ | ولې د اساسې کتاب دويمې او دريمې سويې دپاره بيلې ارزونې نشته؟ | – د دويمې ارزونې پوښتنې د اساسي کتاب د دويمې او دريمې سويې د قابليتونو پر بنسټ جوړي شوي دي، په دې مانا چې د دوهمې سويې د قابليتونو څخه هم پوښتنې پکښي راغلي دي.<br>په دويمه ارزونه کې د اساسی کتاب ددويمې او دريمې سويې قابليتونه د لاندې لاملونو له وجهې يوځای شوي دي:<br>۱- د ليک لوست زده کړی اساسي کتاب د رسمي ښوونځيو د دوهم ټولګی سره انډول دی، نوځکه دوې ارزونې يا د هر ټولګی لپاره يوه ارزونه په پام کې نيول شوې ده.<br>۲- د اساسې کتاب د دريمې سويې لوست ورکولو وخت يوازې يوه مياشت دي، نو مناسبه نه دي چې د يوې مياشتې په موده کې دوې معياري ارزونې ولرو. |

| | | |
|---|---|---|
| | | ۳- که د اساسي او ورپسې لیک لوست زده کړې هر کتاب د هرې سويې لپاره بیلې ارزونې ولرو، نو د ارزونو شمیر به د ۹ میاشتو په بهیر کې آن شپږو ته ورسیږي، چې د ښوونکي د پاره به ستونزمنه وي. نو ځکه مو د ارزونو شمیر دریو ته را لږ کړ. |
| ۳ | څلورمه درجه څه مانا لري؟ او تکرار کوونکی چاته ویل کیږی؟ | – د لیک لوست زده کړې معینیت د هوکړه پاڼې (تصدیق پاڼې) ورکولو د لایحې پر بنسټ، هغه زده کوونکی چې په درې ګونو ارزونو کې ونشې کړای (۳۰ نمرې) پوره کړي څلورمه درجه یا تکرار کوونکي بلل کیږي، چې دا څلورمه درجه د پاته والی او یا ناکامی په مانا نه ده، بلکه دا نوموړي زده کوونکي ته د لا زیاتو زده کړو شونتیاوی برابرول دي چې د لوستلو، لیکلو او حساب کولو وړتیاوې ښې پیاوړي کړي. |
| ۴ | آیا ښوونکي یا څارونکي کولای شي د ارزونو پوښتنو ته بدلون ورکړي؟ | – یه، ښوونکي یا څارونکي نشې کولای چې پوښتنو ته بدلونو ورکړي، ښوونکي اړ دي چې له زده کوونکو څخه همدغه معیاري پوښتنې د لارښود کتاب د لارښونو سره سم ترسره کړي، ځکه چې دا پوښتنې د لیک لوست زده کړې معینیت د ملي ښوونیز نصاب د قابلیتونو پربنسټ جوړي شوي او په ټول هیواد کې باید د لیک لوست زده کړې کورسونو له زده کوونکو څخه وپوښتل شي. |
| ۵ | آیا د زده کوونکو په ارزونه او هوکړه پاڼه کې حاضري اغیزه لري؟ | – د لیک لوست زده کړې زده کوونکو په معیاري ارزونه کې د ګډون دپاره حاضري اغیزه نه لري، په دې مانا چې که یو زده کوونکي ډیره غیرحاضري ولري بیا هم کولای شي په ارزونه کې ګډون وکړي.<br>مګر د لیک لوست زده کړو معینیت لایحه حکم کوي چې ښځینه زده کوونکي باید په سلو کې(۵۰ ) او نارینه زده کوونکي په سلو کې (٦٠) حاضري ولري چې هوکړه پاڼه ورته ورکړل شي.<br>تر دې دمه د لیک لوست زده کړې معینیت همدا لایحه د تطبیق وړ دي که په راتلونکي کښې څه بدلون پکې راغي نو هرومرو به تاسو ته خبر درکړل شي. |

| | | |
|---|---|---|
| | | |
| ٦ | آیا زده کوونکي به د کورس د پیل ارزونې پوښتنو ته د ځواب نه ورکول او یا ځینو پوښتنو ته سم او یا پوره ځواب نه ورکول د ځان سپکاوي ونه بولي؟ | – کله چې یو نوی نالوستی د لیک لوست زده کړې ټولگی ته راځي باید ښوونکی د هغه سره د خواخوږۍ او پیرزوینې اړېکي وساتي، او ددې ارزونې موخې داسې ورته بیان کړي چې په لارښود کې راغلي دي. ښکاره ده هغه کسان چې لومړی ځل د لیک لوست کورس ته راځي د دوي څخه دا تمه نه لرو چې هرومرو پوښتنو ته سم ځوابونه ورکړای شي. |
| ۷ | که د بیلگې په ډول په یو کلي یا کوم بل ځای کې تر ۹۰ ډیر زده کوونکي وي، او ۲ تنه ښوونکو یې د پیل ارزونه ترسره کړي، آیا دا شونې ده چې د پیل ارزونې د پایلو پربنسټ یې په ټولگیو کې ځای پر ځای کړي؟ | – هو، کولای شو په دغه ډول حالت کې د پیل ارزونې د پایلو پر بنسټ زده کوونکي په ټولگیو کې ځای پر ځای کړو، چې داسې پیښې ډیري لږ پیښیدای شي.<br>ولی په حقیقت کې د کورس د پیل ارزونه د لیک لوست زده کړې کورس کې د زده کوونکو د نوم لیکنې څخه وروسته ترسره کیږي او د ټولگیو په ترتیب او تنظیم کې کار نه ځینې اخیستل کیږي. |
| ۸ | هغه زده کوونکي چې د رادیو یا تلویزون څخه زده کړه کوي او یا هم ځانگړي زده کړې لري څه ډول باید وارزوي شي؟ | – په دې لارښود کتاب کې ښودل شوي معیاری ارزونې د هغو زده کوونکو لپاره د پلې کیدو وړ دي چې د لیک لوست زده کړې ټولگی کې یې نوم لیکنه کړې وي او ټولگی ته حاضر شي، ترڅو په پاي کې ورته هوکړه پاڼه ورکړل شي.<br>د هغه زده کوونکو په هکله چې دا ډول زده کړې لري باید د ارزونې یو ځانگړی سیستم ته پرمختگ ورکړل شي، تر څو یې ارزونه ترسره شي. |
| ۹ | آیا هغه کسان چې عمر یې د ۹-۱۵ کلونو پورې وي د لیک لوست زده کړې په کورسونو کې شاملېدای شي؟ | – هو، که په هغه سیمه کې رسمي ښوونځي یا د چټکې زده کړې ښوونځي نه وي یا امنیتي یا کورنۍ ستونزو له امله نه شی کولای چې رسمې ښوونځیو ته لار پیدا کړي، د لیک لوست زده کړې په کورسونو کې شاملیدای شي. |
| ۱۰ | ارزونه او آزموینه څه توپیر لري؟ | – د ارزونې او آزموینې له اصطلاح گانو څخه ځینې وخت په یوه مانا کار اخیستل کیږي، مگر آزموینه د ارزونې یو ډول ده، په دې مانا چې ارزونه تر آزموینې یو پراخ مفهوم دي لکه چې ددې |

| | | |
|---|---|---|
| | | لارښود په دوهم څپرکۍ کې هم داسې یادونه شویده چې ارزونه یو دوامدار بهیر دي چې دښوونې او روزنې په مختلفو پړاونو کې د زده کوونکو د پرمختګ کچه و ټاکل شویو موخو او قابلیتونو ته څرګندوي.<br>زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې د آزموینې کلمه د ښوونځیو او پوهنتونو زده کوونکو لپاره زیاته کارول کیږي اود لیک لوست زده کړي پروګرامونو کې د لویانو لپاره د ارزونې کلمه کارول کیږي. آزموینه څرګندوي چې نوموړي زده کوونکي بریالي او یا ناکام دي نو ځکه د آزموینې له کلمې څخه زده کوونکي ویره لري په داسې حال کې چې په ارزونه کې دا ویره نشته.<br>د ارزونې په بهېر کې ښوونکی زده کوونکي وینې چې څومره پرمختګ یې کړي دی؟ او څومره د نصاب قابلیتونو ته رسېدلی دی؟ ښوونکي په دې اړوند قضاوت کوي او د ارزونې د پایلو پر بنسټ هغو ته ښه سلا مشورې ورکوي او د لا زیات پرمختګ زمینه ورته برابروي.<br>د ارزونې دا لارښود د لیک لوست زده کړې پروګرام کې د زده کوونکو ارزونه د ټولګي په پیل، بهېر او پاي کې په تعلیمې نصاب کې د ټاکل شویو قابلیتونو پربنسټ در پیژني (لا ډیر معلومات ددې لارښود په دویم څپرکي کې د ارزونو په چوکات کې ګورئ). |

## د سرليکونو لړليک

**سرليک** **مخ**


سريزه

د ليک لوست زده کړې پروګرامونو د څارنې چوکاټ

ليکونکي

د ارزونې لارښود او فورمونو په اړه په پرله پسې ډول پوښتل شوې پوښتنې

**لمړی څپرکی:** د لارښود پيژندنه ---------------------------------------------------------- ۱

۱- د لارښود موخې ---------------------------------------------------------- ۱

۲- لارښود څه ډول وليکل شو ---------------------------------------------------------- ۲

۳- لارښود د چا لپاره دي ---------------------------------------------------------- ۳

۴- د لارښود کتاب جوړښت ---------------------------------------------------------- ۳

**دويم څپرکی:** د ليک لوست په فعاليتونو کې د زده کوونکو د ارزونې مفهوم ------------------ ۴

۱- ارزونه څه شی ده؟ ---------------------------------------------------------- ۴

۲- د ارزونې ډولونه ---------------------------------------------------------- ۴

۳- د ليک لوست زده کړې د زده کوونکو ارزونه ولې مهمه ده؟ ----------------------------------- ۵

۴- د زده کوونکو د ارزونې طريقې ---------------------------------------------------------- ۶

۵- د زده کوونکو کومې وړتياوې بايد و ارزول شي؟ ------------------------------------------ ۷

٦- د ليک لوست زده کړې زده کوونکو د معيارې ارزونې کاری چوکاټ -------------------------- ۱۱

**دريم څپرکی**: د زده کوونکو تشخيصی ارزونه ---------------------------------------------------------------- ۱۴

۱- د تشخيصی ارزونې معرفي ----------------------------------------------------------------- ۱۴

۲- د زده کوونکو تشخيصی ارزونه ولې ترسره شي؟ ---------------------------------------------- ۱۴

۳- تشخيصی ارزونه څوک؟ څه وخت؟ او چېري ترسره کړي؟ --------------------------------- ۱۵

۴- د زده کوونکو تشخيصی ارزونه څه ډول ترسره شي؟ ---------------------------------------- ۱۵

۵- د تشخيصی ارزوني د پوښتنو فورم -------------------------------------------------------- ۱۸

٦- د تشخيصی ارزونې پوښتنې څه ډول ترسره شي ------------------------------------------ ۱۹

۷- د تشخيصی ارزونه پايلې څه ډول ثبت او څه ډول راپور ورکړل شي؟ ---------------------- ۲۳

۸- د تشخيصی ارزوني پايلو څخه څرنگه کار واخيستل شي؟ --------------------------------- ۲۵

**څلورم څپرکی**: د اساسې او ورپسې ليک لوست زده کړې کتابونو معياري ارزونې ----------------۲۷

۱- ټوليز معلومات ---------------------------------------------------------------------- ۲۷

۲- د ليک لوست زده کړې پروگرام کې د زده کوونکو د لاسته راوړنو معياري ارزونې -------------- ۲۷

۳- د ارزونې موخې ------------------------------------------------------------------- ۲۸

۴- ارزونه څوک، چيرې او څه وخت ترسره کوي؟ --------------------------------------------- ۲۸

۵- د لومړی، دويمې او دريمې ارزونې د ترسره کولو پړاوونه ------------------------------------ ۲۹

٦- د ليک لوست زده کړی زده کوونکو د ارزونو د پايلو ثبتولو جدول ----------------------------- ۳۵

۷- د ارزونې د پايلو څخه گټه اخيستنه ---------------------------------------------------- ۳۷

٨- د لومړی ارزونې د پوښتنو فورم ---------------------------------------------------------------------- ٣٩

٩- د لومړی ارزونې د پوښتنو اړوند لاربښوونې ------------------------------------------------------------ ٤١

١٠- د دویمې ارزونې د پوښتنو فورم ----------------------------------------------------------------------- ٤٧

١١- د دویمې ارزونې د پوښتنو اړوند لاربښوونې ---------------------------------------------------------- ٣٩

١٢- د دریمې ارزونې د پوښتنو فورم ----------------------------------------------------------------------- ٥٦

١٣- د دریمې ارزونې د پوښتنو اړوند لاربښوونې ---------------------------------------------------------- ٥٨

**ضمیمې (ورسره مل):**

١ضمیمه : د تشخیصی ارزونې فورم.

٢ضمیمه: د تشخیصی ارزونې د پایلو ثبتولو جدول.

٣ ضمیمه: لومړی ارزونه (اساسی کتاب).

٤ ضمیمه: دویمه ارزونه (اساسی کتاب).

٥ ضمیمه: دریمه ارزونه (ورپسې لیک لوست زده کړې کتاب).

٦ ضمیمه: د اساسې او ورپسې لیک لوست زده کړي کتابونو د ارزونو د پایلو د ثبت جدول.

## لومړی څپرکی

# د لارښود پیژندنه

## ۱- د لارښود موخه:

د لیک لوست زده کړې په فعالیتونو کې ددې لارښود موخه داده ښوونکو ته د زده کوونکو د لاس ته راوړنو ارزونې لارو چارو روښانول او په عملي ډول د ارزونې د تر سره کولو ، د پایلو ثبتولو او د ارزونې د پایلو څخه د ګټې اخیستلو لارښوونه کوي.

د ښوونکو څخه تمه لرو چې د دې لارښود په مرسته به لاندې کارونه ترسره کړای شي:

- د لیک لوست زده کړې په فعالیتونو کې د زده کوونکو د لاسته راوړنو د ارزونې په اړتیا، اهمیت او مفهوم وپوهیږي.
- د لیک لوست زده کړې په فعالیتونو کې د زده کوونکو د لاسته راوړنو معیاری ارزونې په منظم ډول ترسره کړای شي، معیاري ارزونې په لاندې وختونو کې ترسره کیږي:
  1) د لیک لوست زده کړې کورس په پیل کې (د زده کوونکو د پیل یا تشخیصی ارزونه).
  2) د لیک لوست زده کړې د اساسي کتاب د ۵۴ لوست څخه وروسته (لومړۍ ارزونه).
  3) د لیک لوست زده کړې د اساسي کتاب په پای یا ۱۰۸ لوست څخه وروسته (دوهمه ارزونه).
  4) د وروستي لیک لوست زده کړي کتاب په پای کې (دریمه ارزونه).
- د ارزونې پایلي په سمه توګه ثبت کړای شي.
- د لیک لوست زده کړې د زده کوونکو د ارزونې د پایلو پربنسټ وروستي فعالیتونه لکه د اړتیا په وخت کې د لوست میتود کې ګټور بدلون، د هغه زده کوونکو سره زیاته مرسته چې د ارزونې پایلي یې ضعیفي وي او یا هم لایق او پوه زده کوونکي د دوی سره مرستې ته هڅول او داسې نور.

همدا راز ددې کتاب په لوستلو سره څارونکي او نور لوستونکي وتوانيږي چې:

- د نظارت کوونکو، لیک لوست زده کړې کارکوونکو او نورو مؤسساتو سره د ارزونې د ترسره کولو د څرنګوالي په اړوند همغږې وکړای شي.
- نويو په دنده ګمارل شويو ښوونکو ته د ارزونې په ترسره کولو کې لارښوونه وکړای شي.
- د دې لارښود په لوستلو سره د خپلې دندې اړوند معلوماتو باندې وپوهيږي.

## ۲- لارښود څه ډول ولیکل شو؟

د لیک لوست زده کړې معينيت د جايکا (لیف۲ پروژې) په تخنیکي مرستو سره په ۲۰۱۰ میلادي کال کې د معينيت له علمي او مسلکي غړيو څخه يو کاري ډله جوړه کړه. نوموړي مسلکي ګروپ د جايکا لیف۲ پروژې د کارپوهانو په تخنیکي مرستو سره په پرله پسې توګه ناستې کولې چې د ښوونکو لپاره د ارزونې لارښود او د زده کوونکو د لاس ته راوړنو ارزونې فورمونو ته پرمختګ ورکړي، په دې بهير کې لارښود او د پوښتنو فورمونه د کابل، بلخ، ننګرهار او باميان په ولايتونو کې د لیک لوست زده کړی کورسونو کې په آزمايښتي ډول پلي ، او دغه رنګه د مسلکي غړيو او د معينيت د نورو رياستونو او مرستندويه مؤسسو سره د نظريو اخيستلو دپاره شريک کيدل، په دې توګه په ۲۰۱۲ عیسوي کال د بيلو سيمو څخه د لاس ته راغلو نظريو او تجربو پربنسټ پر لارښود او فورمونو بيا کتنه وشوه ترڅو ښه اغيزمن او د پلي وړ وګرځي.

## ۳- لارښود د چا لپاره دی؟

د زده کوونکو د ارزونې لارښود کتاب د لیک لوست زده کړي معینیت اړوند او نورو مؤسسو ښوونکو د پاره دی. سربیره پر ښوونکو، دا لارښود د څارونکو، مدیرانو او نورو کارکوونکو لپاره چې د لیک لوست زده کړې په برخه کې فعالیت کوي یوه معیاري او روښانه وسیله ده.

## ۴- د لارښود کتاب جوړښت:

دا لارښود څلور څپرکي لري. د لومړي څپرکي موضوعگانې لکه لارښود د څه لپاره دی؟ څه ډول ولیکل شو؟ د چا لپاره دی؟، په دوهم څپرکي کې د ارزونې تعریف، ډولونه او د ښوونیز نصاب قابلیتونه او د زده کوونکو د لاس ته راوړنو د معیاری ارزونې د کاری چوکاټ په هکله څرگندونې شوي دي.

په دریم څپرکي کې د لیک لوست زده کړی کورس کې د زده کوونکو د پیل ارزونې د ترسره کولو، د پایلو ثبتولو او پایلو څخه د کتې اخیستنې په هکله پوره بیان شوي دی.

څلورم څپرکی د اساسي او ورپسې لیک لوست زده کړي کتابونو د لومړی، دوهمې او دریمې ارزونې په هکله دئ. په دې څپرکي کې د تحریري او تقریري ارزونو د ترسره کولو او دا چې څرنگه د ارزونې پایلي په جدول کې ثبت او څه ډول ورڅخه کار واخیستل شي؟ په هکله توضیحات لوستلای شي.

د څلورم څپرکي په وروستۍ برخه کې ضمیمو(ورسره ملو) ته ځای ورکړل شوئ، چې تاسو کولای شي د (د تشخیصی، لومړی، دویمې او دریمې ارزونو فورمونه او ورسره د پایلو د ثبت جدولونه) وگورئ.

**دوهم څپرکی**

# د لیک لوست زده کړې فعالیتونو کې د زده کوونکو د ارزونې مفهوم

## ۱. ارزونه څه شی ده؟

د (ارزونه) کلمه د (ارز) او (ونه) دوو بیلو برخو څخه جوړه شوې ده چې (ارز) د ارزښت او (ونه) یو پسوند یا وروستاړی دئ چې ارزونه د ارزښت څرګندونې په مانا ده. په ښوونه او روزنه کې ارزونه یو منظم بهیر دی چې موخې ته د رسیدو لپاره د زده کوونکو د پرمختګ کچه پرې پیژندل او ټاکل کیږي.

د ارزوني په وسیله د لیک لوست زده کړې په فعالیتونو کي د زده کوونکو د زده کړي کچه ټاکل او شننه یې کیږي چې په څومره کچه یی د لیکلو، لوستلو او ریاضي وړتیاوې پیاوړې شوي دي؟ ارزونه یو بهیر دی چې د زده کړې په بیلابیلو پړاونو (پیل، بهیر او پای) کې ترسره کیږی ترڅو د زده کړی له بهیر څخه ډاډه شو، بله مهمه خبره داده چې د ارزونو له پایلو څخه سمه ګټه اخیستنه د پرمختګ او جوړونې لامل ګرځي، نه یوازې ترسره کول یې.

## ۲. د ارزونې ډولونه:

په ټولیز ډول د موخې پربنسټ ښوونه او روزنه کې ارزونه دوه ډوله دي:

۱- **تکویني/ جوړه وونکی ارزونه( Formative)** : جوړه وونکي ارزونه د تدریس او زده کړي په بهیر کې ترسره کیږي، ترڅو رغنده او مرسته کوونکي نظریات د ټولګي فعالیتونو په هکله تر لاسه او په پایله کې د ستونزو حل کولو سربیره د زده کړې لړی لانبه او پیاوړې شي، نو ددې ارزونې په وسیله کولای شو چې د زده کونکو د ترلاسه شویو مهارتونو کچې باندې پوه او د تدریس او زده کړې په فعالیتونو کې اړین بدلونونه راوولو.

**۲- وروستۍ یا تراکمي ارزونه (Summative):** په دې ډول ارزونه کې د زده کړې هغه ټول پرمختگونه چې د یوه کورس په موده کی د لیک لوست زده کونکو تر لاسه کړي دي، ارزول کیږي. پدی معنا چی آیا زده کوونکي د لیک لوست زده کړې تعلیمی پروگرام په پاي کې د زده کړو ټاکل شویو کچو ته رسیدلی او کنه؛ همدارنگه د پاي ارزونو د پایلو په مرسته کولای شو د لیک لوست زده کړې ښوونکو د تدریس اود لیک لوست زده کړې پروگرام اغیزمنتوب ومومو ترڅو د لیک لوست پروگرامونو د لاښه والی لپاره بیا کتنې او لازم تصامیم ونیولی شي.

*تشخیصی ، لمړي او دویمه ارزونه* او همدارنگه ورځنې ارزونې لکه د ټولگی فعالیتونه، د تمرینونو ترسره کول، او داسی نور ... د جوړه ونکو ارزونو بیلگې او نمونې دی.

د پاي ارزونې مثال *دریمه ارزونه* دی چی د مابعد کتاب په پاي کې (د ۹ میاشتی کورس تر پشپړیدلو ورسته) تر سره کیږی. په عین حال کې، څرنگه چې د لمړی او دویمې ارزونو نمرې د کورس په پای کی په عمومی نمرو باندې اچول کیږی، (چی په لارښود کی به په خپل ځای کی تشریح شی)، نو لمړی او دویمه ارزونی هم کولی شو د پای ارزونې بیلگي وبولو.

## ۳- د زده کوونکو ارزونه ولي مهمه ده؟

د لیک لوست زده کړې د پروگرام کلي موخه دا ده چې نالوستي د لیک لوست زده کړي مهارتونه ترلاسه او په ژوند کې ورځینې کار واخیســتلای شي، مگر که د زده کوونکو ســـمه او پر وخت ارزونه ونه شي نو نه معلومیږي چې آیا ټاکل شــویو موخو ته رســیدلي یو که نه؟ همدارنگه د ارزونې د پایلو په وســیله کولای شــو چې د لیک لوســت زده کړې د بهیر څرنگوالی معلوم کړو چې آیا ښــه دئ او که لا ښــه کیدو ته اړتیا

لري؟ د بیلګې په توګه د زده کوونکو د پیل ارزونه ښـــوونکو، څارونکو او نورو اړوندو کارکوونکو ته د لیک لوســـت زده کړی کورس کې د لوســـت د پیل څخه مخکې د زده کوونکو د پوهې، معلوماتو د کچې او پخوانې ژوند په اړه لازم معلومات ورکوي.

که د زده کړې په یو پړاو کې د زده کوونکو سویه او د زده کړې کچه لوړه شوې نه وي، دا مانا لري چې د لوست او زده کړې بهیر په اغیزمن ډول سره مخ ته نه دئ وړل شوي، او د لوست ورکولو په بهیر کې ځینې نیمګړتیاوې شته د بېلګې په توګه لوستونه د زده کوونکو په ژوند پورې اړه نه لري یا تمرینونه د لوستلو، لیکلو او ریاضي په برخه کې لږ دي او یا نور لاملونه شته چې زده کوونکي ناخوښ او یا کورس پریږدي.

مګر که د ارزونې پایله ښه وي، نو څرګندیږي چې د زده کړې او لوست ورکولو بهیر سم روان دئ، ځکه پایله یې سمه ده. د زده کوونکو ارزونه نه یوازې دا چې د زده کوونکو د پیژندنې او د زده کړې په بهېر کې د ترسره شوي زیار، کوښښونو او شننې ښه سرچینه ده، بلکه د لازیاتو څېړنو او شننو لپاره ښه لارښوونه هم کوي. نو له دې امله باید زده کوونکي د زده کړې په بېلو پړاونو کې ارزیابي او د پایلو پربنسټ یې د زده کړې بهیر پیاوړي شي ، ترڅو ښوونکي او زده کوونکي زده کړې ته نور هم وهڅول شي.

## ۴- د زده کوونکو د ارزونې طریقې:

ښوونکي کولای شي چې زده کوونکي د لوست په بهېر کې په بېلا بیلو لارو چارو سره و ارزوي د بیلګې په ډول د لوست په بهیر کې پوښتني او ځوابونه، د لوست په فعالیتونو کې د زده کوونکو ګډون، کورنی کار ترسره کول، د املا لیکل او داسې نورو طریقو باندې و ارزوي.

زموږ په ګران هیواد افغانستان کې ډیر وخت ښوونکي د ارزونې پوښتنې په خپله خوښه او اراده جوړوي او له زده کوونکو څخه یې پوښتي، دا ډول ارزونې ته اتفاقي ارزونه ویلای شو چې د زده کړې په بهیر کې باید په پرله پسې ډول ترسره شي او د زده کړې د ښه والي لپاره اغیزمنه ده.

پر پورته طریقو سربیره د معیاری ارزونې ترسره کول اړین او زیات ارزښت لري. په دې ډول ارزونه کې پوښتنې د ټاکل شویو قابلیتونو پربنسټ جوړې شوي او هم د زده کوونکو د وړتیاوو معیاري سویې پکښې په پام کې نیول شوي دي.

د معیاري ارزونې ترسره کول د زده کوونکو، ښوونکو، د لیک لوست زده کړې معینیت او ټولو مرستندویه موسسو لپاره مهم دي، چې پوه شي د هیواد په کچه زده کوونکي د یوي مودې څخه وروسته یې وړتیاوې ټاکل شویو قابلیتونو ته رسیدلي دي که نه؟

که ښوونکي د ارزونې پوښتنې پخپله جوړی کړي پرته له دې چې ټاکل شوي قابلیتونه په پام کې ونیسي، د پوښتنو کچه به یې ډیر توپیر ولري، نو د داسي پوښتنو په ترسره کولو سره نه شي کولای چې د زده کوونکو د لیک او لوست ربښتیانی کچه څرګنده کړي چې دوی ورته رسیدلي دي که نه؟

دا لارښود د معیاري ارزونې پوښتني تاسو ته در پیژني چې د لیک لوست زده کړې د ښوونیز نصاب پربنسټ جوړې شوي او په ټول هیواد کې د پلې کیدو وړ دي.

د ارزونې د طریقو په هکله نور معلومات په دریم او څلورم څپرکیو کې ولولئ.

## ۵- د زده کوونکو کومې وړتیاوې باید و ارزول شي؟

هغه وړتیاوې چې باید د لیک لوست زده کړې په فعالیتونو کې یې ارزونه وشي د هر هیواد د لیک لوست زده کړې په کُلي موخو پورې اړه لري. زموږ د هېواد د لیک لوست زده کړې په ښوونیز نصاب کې

قابلیتونه ټاکل شوي دي، په دې مانا چې زده کوونکي د لیک لوست زده کړې په کورس کې تر ټاکلي وخت وروسته باید ټاکلي کچې ته رسیدلي وي، چې د نوموړو قابلیتونو پربنسټ یې ارزونه ډېره مهمه ده.

د ښوونیز نصاب د چوکاټ پربنسټ د لیک لوست زده کړي په پروګرام کې د دوو کتابونه لوست ورکول کیږی چې یو د لیک لوست زده کړي (اساسي کتاب) او بل د (ورپسې لیک لوست زده کړي کتاب) دی.

د لیک لوست زده کړي اساسي کتاب ۱۰۸ لوستونه او ۳٦ تمرینونه لری چې په شپږو میاشتو کې یې لوست ورکول کیږي. د ورپسې لیک لوست زده کړي کتاب ۳٦ موضوع ګانې لري چې د هري یوې په هکله مختلف شمیر لوستونه لیکل شوي چې ټول (٦۴) لوستونه کیږي، او په درې میاشتو کې یې لوست ورکول کیږي.  نوځکه د لیک لوست زده کړي کورس ټول بهېر د معینیت له خوا ۹ میاشتي ټاکل شویدي. د لیک لوست زده کړي دواړه کتابونه درې سویې لري چې په لاندې توګه بیان شویدي:

| کتاب | د لیک لوست زده کړي اساسي کتاب | | | ورپسې لیک لوست زده کړی پښتو کتاب | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| سویې | لومړی سویه | دوهمه سویه | دریمه سویه | لومړی سویه | دوهمه سویه | دریمه سویه |
| اصلي لوستونه | ۱-۵۴ | ۵۵-۹۰ | ۹۱-۱۰۸ | ۲۹ لوستونه | ۲۱ لوستونه | ۱۴ لوستونه |

یادونه: اساسي کتاب پر ۱۰۸ لوستونو سربیره ۳٦ تمرینونه هم لري.

اساسي کتاب د لومړی او دوهمو ټولګیو  او ورپسې لیک لوست زده کړې کتاب یې د رسمي ښوونځیو دریم ټولګی انډول او برابر دی.

که یو زده کوونکی وغواړي چې په رسمي ښوونځیوو کې خپلي زده کړې وغزوي، نو که یې عمر تر ۱۵ کالو لږ وي کولای شي له اساسي کتاب بشپړیدو څخه وروسته د رسمي ښوونځیو دریم ټولګی او د ورپسې لیک لوست زده کړي کتاب له پای ته رسیدو څخه وروسته د رسمي ښوونځیو څلورم ټولګی ته شامل شي.

د ورپسې لیک لوست زده کړي کتاب په پای ته رسیدو سره زده کوونکی کولای شي چې د حیاتي سواد د ښوونځیو په څلورم ټولگی کې شامل شي. دا ښوونځی په ځانګړي ډول د لویانو دپاره دي او له څلورم څخه تر نهم ټولگیو پوري دي او په ځینو ځایونو کې تر دوولسم ټولگی پورې هم شته.

د لیک لوست زده کړي په ښوونیز نصاب کې یوه میاشت (۲۴) ورځې په پام کې نیول شوې ده په دې مانا چې اساسي کتاب ۱۰۸ لوستونه او ۳٦ تمرینونه لري چې ۱۴۴ ورځې لوست ورکول کیږي او د ورپسې لیک لوست زده کړې کتاب ٦۴ لوستونه لري چې د درې میاشتو (۷۲ ورځو) په بهیر کې یې باید لوست ورکول شي.

د لیک لوست زده کړې اساسی کتاب ⟸ ٦ میاشتي × ۲۴ ورځي = ۱۴۴ ورځي

ورپسې لیک لوست زده کړې کتاب ⟸ ۳ میاشتي × ۲۴ ورځي = ۷۲ ورځي

د لیک لوست زده کړي د ملي ښوونیز نصاب قابلیتونه:

د اساسي او ورپسې لیک لوست زده کړې کتابونو هره سویه د لیکلو، لوستلو او ریاضی وړتیاوو باندې ویشل شوېده، او د هرې وړتیا لپاره قابلیتونه په پام کې نیول شوي دي چې زده کوونکي باید ورته ورسیږي. د بیلگې په توگه تاسو کولای شئ د اساسي کتاب د لومړۍ سویې قابلیتونه په لاندې جدول کې وگورئ:

| وړتیاوې | لومړۍ سویه |
|---|---|
| لوستل | - زده کوونکي باید د پنځه توري لرونکي کلمو لوستلو وړتیا ولري.<br>- زده کوونکي باید د اصلي او فرعي منځپانگو یا لیکنو لوستلو وړتیا ولري.<br>- زده کوونکي باید د ساده او لنډو جملو چې د څلورو کلمو څخه جوړي وي د لوستلو وړتیا ولري.<br>- زده کوونکي باید څلور جمله ای لنډو پراگرافونو د لوستلو وړتیا ولري. |

| | |
|---|---|
| | - زده کوونکي باید د ۱ څخه تر ۹۹۹ پورې د عددونو لوستلو وړتیا ولري. |
| لیکل | - زده کوونکي باید د نوم او پتې لیکلو وړتیا ولري.<br>- زده کوونکي باید د ۱ څخه تر ۹۹۹ پورې عددونو د لیکلو وړتیا ولري. |
| ریاضي | - زده کوونکی باید د ۱ څخه تر ۹۹۹ پورې عددونو د شمیرلو، پیژندلو او پرتله کولو وړتیا ولري.<br>- زده کوونکي باید د ۱ څخه تر ۹۹۹ پورې په عددونو پوه او د کوچنی څخه لوی او لوی څخه کوچني ته د عددونو ترتیبولو وړتیا ولري.<br>- زده کوونکی باید د عدد د هر رقم په ارزښت د پوهیدو وړتیا ولري.<br>- زده کوونکي باید د دوه رقمی عددونو د جمع کولو وړتیا ولری چې حاصل یکښې نه وي.<br>- زده کوونکي باید د دوه رقمی عددونو تفریق کولو وړتیا ولری چې د بل عدد څخه پور اخیستل پکښې نه وي. |

په همدې ترتیب د لیک لوست زده کړې د اساسي او ورپسې لیک لوست زده کړې کتابونو د هرې سویې دپاره قابلیتونه ټاکل شوي دي (کولای شئ د لازیاتو معلوماتو لپاره د لیک لوست زده کړې ښوونیز نصاب ولولئ.

د زده کوونکو د پیل، لومړی، دوهمې او دریمې ارزونې پوښتنې چې د دې لارښود په دریم او څلورم څپرکیو کې راغلي دي د همدغو قابلیتونو پربنسټ جوړې شوي دي. سربیره پر دې د ارزونې پوښتنې په عملي ډول په ساحه کې څوځو ځلي په آزمایښتی ډول کارول شوي ترڅو د زده کوونکو ژوند سره یې اړیکه په پام کې نیول شوې وي.

د ژوند نوري وړتیاوي لکه د ستونزو له منځه وړل، سمه پریکړه، ښې خبري او نور چې د ژوند وړتیاوي دی، ډیری مهمې دي چې زده کوونکي یې باید په کورسونو کې زده کړي. مګر د دې وړتیاوو ارزونه ډیر وخت او ډول ډول میتودونو او طریقو ته اړتیا لري چې وارزول شی، نو له دې امله په دې لارښود کې د لیک لوست زده کړې د وړتیاوو ارزونه د ښوونیز نصاب د قابلیتونو او هم د زده کوونکو د ژوند اړوند برخو

کې ارزول کیږي. یوازې د زده کوونکو د پیل ارزونه کې د زده کوونکو پخوانۍ زده کړې او دغه رنګه د ژوند په نورو برخو کې معلومات لکه دیني، روغتیايي یا د چاپېریال پاکوالی او هم د لیک لوست زده کړې (لوستل، لیکل او ریاضي) په اړوند وړتیاوو ارزونه کیږي، دا ارزونه (د پیل ارزونه) د زده کوونکو د پېژندلو دپاره کیږي چې ښوونکی تر لوست ورکولو مخکې دوی ښه وپیژني او د هغو پربنسټ د لوست طریقه او پلان جوړ کړي.

## ٦- د لیک لوست زده کړې زده کوونکو د معیاري ارزونې چوکاټ:

د زده کوونکو د معیاري ارزونې کاری چوکاټ چې د لیک لوست زده کړې معینیت له خوا ورته پراختیا ورکړل شوې دی، کولای شې په راتلونکي مخ کې وګورئ چې پربنسټ یې لاندې ارزونې ترسره کیږي:

- **تشخیصی ارزونه:** د لیک لوست زده کړې کورس په پیل کښې
- **لومړۍ ارزونه:** تر ۵۴ لوست وروسته یا د اساسي کتاب د لومړۍ سویې ارزونه
- **دوهمه ارزونه:** د تر ۱۰۸ لوست وروسته یا د اساسي کتاب دویمې او دریمې سویو ارزونه (د اساسی کتاب په پاي کې)
- **دریمه ارزونه:** د وروستي لیک لوست زده کړې کتاب تر بشپړېدو وروسته.

د پورته یادو شویو هرې یوې ارزونې په اړه نورې څرګندونې لکه د ارزونې موخې، ځای ، وخت، منځپانګه یا محتوا او طریقو په اړه هر ډول معلومات او هم دا چې څه ډول ارزونه سرته ورسوئ په دریم او څلورم څپرکی کې بیان شوي دي.

**د لیک لوست زده کړې زده کوونکو د معیاري ارزونې کاري چوکاټ**
**(داساسي او ورپسې لیک لوست زده کړې کتابونه)**

| شماره | ارزونې | وخت | د ترسره کیدو ځای | موخې | د ترسره کیدو وخت | محتوا یا منځپانګه | د ترسره کیدو طریقه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | تشخیصي ارزونه | د لیک لوست زده کړې کورس په پیل کې د نوم لیکنې څخه وروسته | د لیک لوست زده کړې ټولګي | ۱. د زده کوونکو د لیک لوست زده کړې اود ژوند معلوماتو کچه د ټولګی په پیل کې معلومول<br>۲. ښوونکي د لوست ورکولو په وخت کې د ارزونې پایلې او د دوی د زده کړې د کچې توپیرونه په پام کې نیسي. | هر زده کوونکي لپاره ۵ دقیقې | لوستل، لیکل، ریاضي او د ژوند نورمعلومات پوښتنې د اساسي کتاب د لومړۍ سویې د قابلیتونو په اساس په درې ډوله راوړل شوي:<br>آسانی، منځني، ستونزمني. | ښوونکی د هر زده کوونکي څخه په بیل بیل ډول پوښتنې کوي. | د تشخیصی ارزونې پایله باید زده کوونکو ته ونه ویل شي ځکه ښایی ناهیلی او زده کړې سره یې مینه لږ شي. |
| ۲ | لومړۍ ارزونه (اساسي کتاب) | د اساسي کتاب د لومړۍ سویې ترپای ته رسیدو وروسته (پس له ۵۴ لوست څخه چې د رسمي ښوونځیو د لومړۍ ټولګی سره برابر او انډول دئ) | په کورس کې پس له ۵۴ لوست څخه باید یوه ورځ د ارزونې سرته رسولو دپاره وټاکل شي. | ښوونکي لپاره؛<br>۱. د زده کوونکو د زده کړې وړتیاوو، ذهنیت او لاس ته راوړنو د کچې معلومول.<br>۲. د زده کوونکو د پوهې او وړتیاوو د کچې لوړولو او هغه ضعیفه زده کوونکو ته ډیر پام او مرسته چې تر نورو وروسته پاته دي.<br>۳. ښوونکی د ارزونې د پایلو څخه ځان ارزوي او د لوست په میتود کې پیاوړتیا او اغیزمنتوب زیاتوي.<br>زده کوونکو لپاره:<br>۱. زده کوونکي د خپلې زده کړې کچه پیژني.<br>۲. زده کوونکي چې خپله د زده کړې کچه وپیژني نور هم خوښیږي او هڅول کیږي. | ۲ نجومي ساعتونه یا (۱۲۰) دقیقې<br>- د ټولګی تنظیم او ترتیب (۱۰ دقیقې)<br>- تحریری ارزونه (۴۰ دقیقې)<br>- تقریري ارزونه (۷۰ دقیقې) | لیکل، ریاضي او لوستل پوښتنې د لیک لوست زده کړې د لومړي کتاب د لومړۍ سویې د قابلیتونو پر بنسټ جوړې شوي دي او په درې ډوله:<br>آسان، منځنی، ستونزمن. | ارزونه په دوو ډولو ترسره کیږي:<br>۱- تحریری (د ریاضي او لیکلو برخه)<br>۲- تقریري (د لوستلو برخه) | د ارزونې نمرې (پایله)زده کوونکو ته ورکړل شي که یې نمره لږ هم وي وروستي سویه کې خپلو زده کړو ته ادامه ورکولای شي. |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | دوهمه ارزونه<br>(د اساسي کتاب) | د اساسي کتاب ترپای ته رسیدو وروسته (پس له ۱۰۸ لوست څخه چې د رسمي ښوونځیو د دوهم ټولګی سره برابر او انډول دئ) | د زده کوونکو کورس (پس له ۱۰۸ لوست څخه یوه ورځ د ارزونې دپاره وټاکل شي.) | ښوونکي لپاره؛<br>۱. د زده کوونکو د زده کړې وړتیاوو، ذهنیت او لاس ته راوړنو د کچې معلومول.<br>۲. د زده کوونکو د پوهې او وړتیاوو د کچې لوړولو او هغه ضعیفه زده کوونکو ته ډېر پام او مرسته چې تر نورو وروسته پاته دي.<br>۳. ښوونکی د ارزونې د پایلو څخه ځان ارزوي او د لوست په میتود کې پیاوړتیا او اغیزمنتوب زیاتوي.<br>زده کوونکو لپاره:<br>۱. زده کوونکي د خپلي زده کړي کچه پیژني.<br>۲. زده کوونکي چې خپله د زده کړي کچه وپیژني نور هم خوښیږي او هڅول کیږي. | ۲ نجومي ساعتونه یا (۱۲۰) دقیقې<br>- د ټولګی تنظیم او ترتیب (۱۰ دقیقې)<br>- تحریری ارزونه (۴۰ دقیقې)<br>- تقریري ارزونه (۷۰ دقیقې) | لیکل، ریاضي او لوستل پوښتنې د اساسي کتاب د دریمي سوبې د قابلیتونو پر بنسټ جوړي شوي دي.<br>په درې ډوله:<br>آسان، منځنی، ستونزمن | اروزنه په دوو لاندې طریقو ترسره کیږي:<br>۱- تحریري (د ریاضي او لیکلو برخه)<br>۲- تقریري (د لوستلو برخه) | زده کوونکو ته نمرې ورکول کیږي که څه هم نمره ډیره لږ وي او کولای شي وروسته سوبې ته زده کړې وغزوي.<br>که کوم زده کوونکي د اساسې کتاب په پاې کې وغواړي چې کورس پریږدي، ښوونکي دې د مدیریت په مشوره د اساسې کتاب پای ته رسول تصدیق کړي. |
| ۴ | دریمه ارزونه<br>(د ورځني لیک لوست زده کړې کتاب) | د ورپسې لیک لوست زده کړي کتاب په پای کې (چې د رسمي ښوونځیو د دریم ټولګی سره برابر دئ) | کورس (د ورپسې لیک لوست زده کړي دپای لوست څخه وروسته یوه ورځ د ارزونې دپاره وټاکل شي.) | د ښوونکي لپاره:<br>۱. د زده کوونکو د زده کړې وړتیاوو، ذهنیتونو او لاس ته راوړنو د کچې معلومول.<br>۲. د زده کوونکو د پوهې او وړتیاوو د کچې لوړولو او هغه ضعیفه زده کوونکو ته ډېر پام او مرسته چې تر نورو پاته دي.<br>۳. ښوونکی د ارزونې د پایلو څخه ځان ارزوي او د لوست په میتود کې پیاوړتیا او اغیزمنتوب زیاتوي.<br>۴. زده کوونکي د خپلي زده کړي کچه پیژني.<br>۵. زده کوونکي چې خپله د زده کړي کچه وپیژني نور هم خوښیږي او هڅول کیږي.<br>__تصدیق پانه (هوکړه پانه)__<br>د لیک لوست زده کړي د معینیت د لایحې سره سم د درې واړه ارزونو (لومړۍ، دوهمې او دریمې ارزونو) پاڼې په پام کې نیول کېږي. | ۲ نجومي ساعتونه یا (۱۲۰) دقیقې<br>- د ټولګی تنظیم او ترتیب (۱۰ دقیقې)<br>- تحریری ارزونه (۴۰ دقیقې)<br>- تقریري ارزونه (۷۰ دقیقې) | لیکل، ریاضي او لوستل پوښتنې د ورپسې لیک لوست زده کړي د کتاب د لومړۍ دوهمي او دریمي سوبې د قابلیتونو پر بنسټ جوړي شوي دي.<br>درې ډوله:<br>آسان، منځني، ستونزمن. | ارزونه په دوو لاندی طریقو ترسره کیږي:<br>۱- تحریري (د ریاضي او لیکلو برخه)<br>۲- تقریري (د لوستلو برخه.) | د درې واړه ارزونو نمرې د معینیت د تصدیق ورکونې لایحې مطابق په هوکړه پاڼه کې په پام کې نیول کیږي. |

دریم څپرکی

# د زده کوونکو تشخیصی ارزونه

## ۱- د زده کوونکو تشخیصی ارزونې معرفي:

د زده کوونکو د تشخیصی یا ورودی ارزونه د لیک لوست زده کړې د فعالیتونو په بهیر کې، هغه ارزونه ده چې ښوونکی یې د کورس په پیل کې د لوست ورکولو څخه مخکې د زده کوونکو تر نوم لیکلو وروسته، تر سره کوي. دا ارزونه د دې د پاره ده، چې تر لوست پیل کولو مخکې ښوونکي ته د زده کوونکو د پوهې، وړتیاوو، ذهنیتونو او حساب زده کړې او ژوند په نورو برخو کې د هغوي د معلوماتو کچه څرګنده شي.

په دې څپرکي کې د لیک لوست زده کړې د زده کوونکو د پیل ارزونې پړاونه، موخې، دا چې څوک یې تر سره کوي؟، څه وخت ترسره کیږي؟، څه ډول د ارزونې پایلې ولیکل شي؟ او کار ځینې واخیستل شي برخې په پرله پسې ډول راغلي دي.

## ۲- د زده کوونکو تشخیصی ارزونه ولې ترسره شي؟

د لیک لوست زده کړې د زده کوونکو د تشخیصی ارزونې بنسټیزې موخې په دې ډول دي:

۱. د زده کوونکو د لیک لوست زده کړې اود ژوند معلوماتو کچه په ټولګی کې د لوست له پیل څخه مخکې معلومول.

۲. ښوونکی د لوست ورکولو په وخت کې د ارزونې پایلې په پام کې نیسي او د زده کوونکو د پوهې او وړتیاوو د کچې سره سم د لوست فعالیتونه سموي.

پورته موخې ولې مهمې دي؟

لاندې د هرې موخې د پاره دلیلونه لیکل شوي دي:

۱. زده کوونکي چې د لیک لوست زده کړې کورسونو ته راځي، د زده کړې کچې یې بیلې او توپیرونه لري. د دوی هر یو د لوستلو، لیکلو، ریاضي او د ژوند د نورو معلوماتو کچه په دیني، روغتیایي، چاپیریال ساتنې او نورو برخو کې سره توپیر لري، له دې امله لازمه ده چې ښوونکي ته د کورس له پیل څخه څرګنده شي چې د هر زده کوونکي د پوهې کچه څومره ده، اړینه ده چې تشخیصی ارزونه ترسره شي چې له مخې یې په راتلونکي کې د زده کوونکو د پرمختګ کچه په ښه توګه لوړه شي.

۲. دا چې ښوونکي د زده کوونکو د تشخیصی ارزونې په مرسته د زده کوونکو د لیک لوست زده کړې او پوهې کچې باندې پوه شي، کولای شي د پیل ارزونې د پایلې پر بنسټ د لوست ورکولو سمه او مناسبه طریقه وکاروي. د زده کوونکو د پوهې کچه ښایی په هر ټولګي کې توپیر ولري په دې مانا چې (کښته، منځنې او لوړه) وي، مګر ښوونکي باید د پیل ارزونې پایلو ته په پام سره زده کوونکو ته لوست ورکړي

او ښکته سویې لرونکو زده کوونکو ته زيات پام وکړي چې آسانه او ژرېې نورو کچې ته راورسوي. (د ډېرو معلوماتو دپار د دریم څپرکي ٦ برخه وګورئ.)

## ۳- تشخیصی ارزونه څوک؟ څه وخت؟ او چیري ترسره کړي؟

څوک؟ ښوونکي د زده کوونکو د پیل ارزونه تر سره کوي.

څه وخت؟ د لیک لوست زده کړې ټولګي کې د زده کوونکو له نوم لیکنې څخه وروسته او د لومړي لوست څخه وړاندې.

ددې ارزونې څخه مخکې باید د کورس جوړلو د پاره د هغې سیمې د مشرانو، یوه او مخورو خلکو سره خبري شوي وي او د کورس جوړول یې منلي او مرستې ته چمتو شوي وي.

چیري؟ د لیک لوست زده کړې ټولګي او یاهم هر ځای کې چې لاس رسی ورته کیدای شي.

## ۴- د زده کوونکو تشخیصی ارزونه څه ډول ترسره شي؟

**لومړی پړاو -** چمتووالی: ښاغلي ښوونکي باید تر ارزونې وړاندې لاندې توکي چمتو کړي:

۱. د تشخیصی ارزونې فورم: د لیک لوست زده کړې آمریت یا مدیریت باید د دې ارزونې د پوښتنو فورم ښوونکو ته ورکړي.

۲. د تشخیصی ارزونې د پایلو د ثبت جدول: د لیک لوست زده کړې آمریت یا مدیریت دې ښوونکي ته ارزونې د پایلو ثبتولو یو جدول ورکړي.

۳. قلم: ښوونکو سره باید د ارزونې پر مهال قلم وي.

۴. کتابچه: هر ښوونکی باید یوه کتابچه ولري چې ځینې د لیکلو وړشیان پکښې ولیکي.

۵. دوسیه: که شونې وي د لیک لوست زده کړي آمریت یا مدیریت دې ښوونکو ته د پاڼو د ساتنې دپاره یوه دوسیه ورکړي.

د ارزونې له پیله مخکې باید ښوونکي د ارزونې فورم په غور سره وګوري او ټولو برخو باندې ځان ښه پوه کړي.

د پورته یادو شویو توکو له چمتو کولو څخه وروسته د زده کوونکو د پیل ارزونه په لاندې ډول ترسره کړئ:

**دوهم پړاو:** د زده کوونکو سره پیژندنه:

تر هر څه مخکې ښوونکي د ډیر ګران ملګري په څیر خپل ځان زده کوونکو ته په دوستانه ډول کې ورپیژني.

**دريم پړاو:** زده کوونکو ته د  تشخيصی ارزونې موخې او بهير بيان کړئ.

کله چې ښوونکي د دې ارزونې بهير او موخې بيانوي بايد زيار وباسي داسي تيروتنه ونه شي، چې دوی فکر وکړی چې دا زموږ ارزونه ده، ځکه ښايي ځينې زده کوونکي وويريږی او تر بدي اغيزي لاندې راشي، بايد دوی ته وويل شي چې دا ستاسي يوه لنډه پيژندنه ده او ستاسې په گټه ده،  او ددې پيژندنې موخه دا ده چې د ليک لوست زده کړې کورس کې د لوست له پيل څخه مخکې ستاسي د هر يو معلوماتو، وړتياوو او مخکې چمتووالې باندې وپوهيږو ترڅو، د دې معلوماتو پر بنسټ به موږ او تاسې وکولای شو چې ستاسو د پاره ښه لوست ترسره کړو، ځکه نو ستاسي دا مرسته د درناوي وړ ده.

تاسو هر يو سره به دا پيژندنه د ۵ دقيقو په شاو خوا کې وخت ونيسي.

**څلورم پړاو:** د هر زده کوونکی څخه د تشخيصی ارزونې پوښتنې د فورم پر بنسټ ترسره کړئ.

**يادونه**: مخکې له دې چې له زده کوونکو څخه د تشخيصی ارزونې پوښتنې پيل کړي، بايد يو مناسب ځای ځانته وټاکي، ترڅو نور زده کوونکي ونشي کړاي ستاسی سوال او ځواب واوري.




ښوونکي د هر زده کوونکي څخه د تشخيصی ارزونې پوښتنې (په ۱۹-۲۲ مخونو) کې د ورکړل شويو لارښونو سره سم وکړی، او ځوابونه دې د پايلو ثبتولو په جدول کې په نښه کړي.

**يادونه**:  که د تشخيصی ارزونې په مهال کوم زده کوونکي ونشو کړاي چې د لوستلو برخې آسانه پوښتنه (د الفباء توري) ته ځواب ورکړي نو اړتيا نشته چې ورڅخه دوه نوری پوښتنې وشي، تاسو کولې شي چې د ليکلو برخې پوښتنو ته ولاړ شئ.

(د تشخیصی ارزونې د پوښتنو فورم په ۳۰ مخ او ۱ ضمیمیه کې وګورئ.)
(د تشخیصی ارزونې د پایلو ثبتولو جدول لپاره ۲ ضمیمه وګورئ.)

**پنځم پړاو:** د تشخیصی ارزونې پای ته رسول
وروسته له دې چې له یو زده کوونکی څخه د تشخیصی ارزونې ټولې پوښتنې ترسره شوي له مرستې څخه یې مننه وکړي او دوی د لیک لوست زده کړې کورس کې د زده کړې لپاره وهڅوي او هم دوی ته ووایي که په دې اړوند کومه پوښتنه لرئ ووایاست، او که نه نو خپل کور یا دندې ته ولاړ شئ نن ورځ درس نه وایو.
دا ارزونه د ښوونکو د معلوماتو لپاره ده او پایله یې باید زده کوونکو ته ونه ویل شي، خو بیا هم که څوک وغواړي ورته دي په یوازیتوب کې وویل شي، په داسې ډول چې ناهیلي نه شي ځکه دوی ښایي ښه پایلي ونه لري او دې ارزونې ته لومړی ځل راغلي دي.
که کوم زده کوونکی یا زده کوونکو وغوښتل چې پایلي ورته وویل شي، نو ښوونکی کولای شي د لوستلو، لیکلو، ریاضي او د ژوند نوري زده کړي پایله دوی ته په بیل بیل ډول ووایي، د بیلګي په توګه که زده کوونکی د لوستلو په برخه کې د ۳ ځوابونو څخه ۲ سم ځوابونه ویلي وي، ښوونکی باید د هغه درناوی وکړي او هغه وهڅوي او ورته ووایي چې د لوستلو وړتیا ته پام وکړي، که په ریاضي کې ښه نه وي او په ۳ واړو ځوابونو کې تیروتنه کړې وي باید ورته وویل شي چې څه خبره نه ده، ته یو نوی زده کوونکی یې، ناهیلی نه شي، ته ښه وړتیا لرې که زموږ سره کورس ته دوام ورکړې سربیره پر لیکلو او لوستلو د ریاضي په برخه کې به هم ښه وپوهیږې.

> **یادونه**: د پیل ارزونې د لوستلو، لیکلو او ریاضي د برخو پوښتنې د اساسي کتاب د لومړی سویې د قابلیتونو پر بنسټ جوړې شوي او د ژوند د نورو معلوماتو په هکله پوښتنې هم د ښوونیز نصاب د موضوعاتو پر بنسټ لکه د دنیات، روغتیا، د ژوند چاپیریال ساتنې او نورو څخه ټاکل شوي دي.

**۵- د تشخیصی ارزونې د پوښتنو فورم:** د زده کوونکو د تشخیصی ارزونې د پوښتنو فورم د زده کوونکو په اړه د عمومی معلوماتو، . لوستلو، ریاضی، لیکلو او د ژوند د نورو معلوماتو برخو کې پوښتنې لري.

دلیک لوست معینیت/لیف۲ پروژه

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د پوهنې وزارت
د لیک لوست زده کړې معینیت

## تشخیصی ارزونه

**ښاغلی ښوونکی: هیر مو نشی چی له هر زده کوونکی څخه لاندی معلومات واخلئ او د پایلو ثبتولو په جدول کی یی ولیکئ.**

| ۱. د زده کوونکي نوم | ۲. د پلار نوم | ۳. عمر | ۴. نر/ښځه | ۵. مورنی ژبه | ٦. تر څووم ټولګی مو ښوونځی لوستی؟ | ۷. دنده | ۸. ولي غواړئ د لیک لوست کورس ته راشئ؟ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | |

### ۱- د ریاضي برخې پوښتنې:

۱ د څو منو تصویر وینئ؟



۲ وواياست چې ۲۴ او ۱۰ څو کیږي؟

۳ که د ۳۸ څخه ۲۸ کم کړو څو پاتې کیږي؟

### ۲- د لوستلو برخې پوښتنې:

۱ د لاندې الفبأ تورو څخه یو توری زده کوونکی ته وښیې چې ویې لولي:

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | ب | پ | ت | ټ | ث | ج | چ | ځ | څ |
| ح | خ | د | ډ | ذ | ر | ړ | ز | ژ | ږ |
| س | ش | ښ | ص | ض | ط | ظ | ع | غ | ف |
| ق | ک | ګ | ل | م | ن | ڼ | و | ه | ی |
| | | | ي | ې | ئ | ۍ | | | |

۲ یو د لاندې کلمو څخه ولولئ:

**کتاب** | **پلار** | **اختر** | **روژه**

۳ دا ولولئ:

**جامې باید پاکې وي.**

### ۳- د لیکلو برخې پوښتنې: (ښوونکي لاندې درې پوښتنې لولي چې زده کوونکی یی ولیکي)

۱ ولیکه: (۸)

۲ خپل نوم ولیکه.

۳ د خپل ولایت نوم ولیکه.

### ۴- د ژوند د نورو معلوماتو برخې پوښتنې:

۱ اسلام څو بناوې لري؟

**ښوونکی دي لاندې سوالونه د دوو ځوابونو سره ولولي او زده کوونکی ته دې ووايي چې سم ځواب په نښه کړي:**

۲ د نس ناستې د مخنیوي د پاره باید څه وشي؟

- لاسونه په پاکو اوبو او صابون پریمینځل شی، میوه او سابه هم باید مخکې له خوړلو په پاکو اوبو ومینځل شی.
- د نس ناستې له درملو څخه کار واخیستل شی.

۳ د چاپیریال ساتنه د چا دنده ده؟

- ښاروالي.
- ښاروالي او خلک.

## ٦- د تشخیصی ارزونې پوښتنې څه ډول ترسره شي

ددې لپاره چې هره پوښتنه په څه ډول له زده کوونکی څخه وپوښتل شي مفصل توضحیات په دې برخه کې لوستلی شي.

### ۱. ټولیز معلومات:

د دې برخې موخه دا ده چې ښوونکي ته څرگنده شي چې د زده کوونکی سابقه څه ده؟ او دا چې کوم لاملونه دي چې دی کورس ته راځي؟ ښوونکی هره پوښتنه له زده کوونکو څخه ترسره کوي او پایلو ثبت جدول کې د زده کوونکو ځوابونه لیکی:

۱. د زده کوونکي نوم

۲. د زده کوونکي د پلار نوم

۳. د زده کوونکي عمر

۴. د زده کوونکي جنس:    نر    ښځه

۵. د زده کوونکي مورنۍ ژبه: چې په کور کې خبرې په کوي لکه: پښتو، دري، ازبکی، ترکمني.......

٦. د زده کړې کچه: د زده کوونکي څخه پوښتنه وشي چې د ښوونځی څو ټولگي یې لوستي دي؟

۷. دنده: د ده څخه پوښتنه وشي چې اوس کومه دنده لرې؟ لکه: د کور ښځه، هټۍ وان، مستري، گنډونکی، بزگر، د دولتي اداري کارکوونکی او نور.

۸. ولي غواړې چې د لیک لوست زده کړې ټولگی ته شامل شې؟

له هر زده کوونکي څخه وپوښتئ چې ولي غواړي د لیک لوست زده کړې په ټولگی کې شامل شي؟ که ووایي چې د (لوستلو، لیکلو او ریاضی) د زده کولو دپاره، د ده څخه ډیر معلومات وغواړئ چې ویې ټاکي چې څه ډول زده کړه یا کوم د ژوند ورتیاوې غواړي چې په ټولگی کې یې زده کړي او په ترسره کولوېې وتوانیږي، لکه:

- کتابونه، قرآنکریم، لوحې، لیکونه، رسیدونه او نور ولوستلای شم.
- لیکونه لیکل، د فورمونو ډکول، د ځینې توکیو د رانیولو نوم لړ او داسې نور جوړول.
- د عددونو او شمیرونو زده کړه: د گرځند تلیفون څخه کار اخیستل، د پیسو شمیرل د رانیولو په وخت کې د کورنۍ د عاید او لگښت لیکل او نور.
- د ژوند نورو زده کړو او وړتیاوو زده کړه لکه: دیني زده کړې، روغتیایي او کسبي زده کړې زده کول.

سره له دې چې ټولې موخې او انګیزې نه شې څرګندیدلای مګر بیا هم ښوونکې ته ګټوره ده چې په پوه شي او د لوست ورکولو په وخت کې د زده کوونکو غوښتنې په پام کې ونیسي.
تر ټولیزو معلوماتو وروسته ښوونکی د زده کوونکو څخه د لوستلو، لیکلو، ریاضي او د ژوند د نورو زده کړو په هکله پوښتنې کوي. د پیل ارزونې د هرې پوښتنې د پوښتلو طریقه په لاندې ډول ده:

۲. **د حساب برخې پوښتنې:** د حساب برخه درې پوښتنې لري چې په لاندې ډول دي:

| لومړۍ پوښتنه | د څو منو تصویرونه وینئ؟<br> |
|---|---|
| د پوښتلو طریقه | ښوونکی د زده کوونکو د پیل ارزونې د فورم لومړۍ پوښتنې انځورونه زده کوونکې ته ښیي او ورته وایي چې دا څو منې دي؟ |
| سم ځواب | زده کوونکی په خوله ځواب وایي چې اته (۸) |

| دوهمه پوښتنه | ۲۴ او ۱۰ څو کیږي؟ |
|---|---|
| د پوښتلو طریقه | ښوونکی د زده کوونکي څخه پوښتنه کوی چې ۲۴ او ۱۰ څو کیږي؟ |
| سم ځواب | زده کوونکی په خوله ځواب وایي: ۳۴ |

| دریمه پوښتنه | که د ۳۸ څخه ۲۸ وباسو څو پاتې کیږي؟ |
|---|---|
| د پوښتلو طریقه | ښوونکی د زده کوونکی څخه پوښتنه کوي که له ۳۸ څخه ۲۸ لیري یا کم کړو نو څو پاته کیږي؟ |
| سم ځواب | زده کوونکی په خوله ځواب وایي: ۱۰ |

۳. **د لوستلو برخې پوښتنې:** دا برخه درې پوښتنې لري چې په لاندې ډول باید ترسره شي:

| لومړۍ پوښتنه | د لاندې الفبأ تورو څخه یو توری زده کوونکي ته وښیاست چې ویې لولي: |
|---|---|

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | ب | پ | ت | ټ | ث | ج | چ | ځ | څ |
| ح | خ | د | ډ | ذ | ر | ړ | ز | ژ | ږ |
| س | ش | ښ | ص | ض | ط | ظ | ع | غ | ف |
| ق | ک | ګ | ل | م | ن | ڼ | و | ه | ی |
| | | | ي | ې | ئ | ۍ | | | |

| | |
|---|---|
| د پوښتلو طریقه | ښوونکی د الفبا د جدول څخه چې په فورم کې شته یوازې یو توری ټاکي او زده کوونکي ته وایي چې دا توری ولوله. |
| سم ځواب | د ټاکلي توري سم لوستل. |

| | |
|---|---|
| دوهمه پوښتنه | یو د لاندې کلمو څخه ولولئ:<br>کتاب \| پلار \| اختر \| روژه |
| د پوښتلو طریقه | ښوونکی زده کوونکو ته د پورته کلمو څخه یوه کلمه زده کوونکي ته ښیې چې ویې لولي. |
| سم ځواب | د په نښه شوي کلمې سم لوستل. |

| | |
|---|---|
| دریمه پوښتنه | دا ولوله: جامې باید پاکې وي. |
| د پوښتلو طریقه | ښوونکی زده کوونکي ته پورته جمله ښیي چې ویې لولي. |
| سم ځواب | زده کوونکی یې لولي (جامې باید پاکې وي.) |

۴. د لیکلو برخې پوښتنې: دا برخه هم درې پوښتنې لري چې په لاندې توګه باید ترسره شي.

| | |
|---|---|
| لومړۍ پوښتنه | ولیکه: ۸ |
| د پوښتلو طریقه | ښوونکی زده کوونکي ته وایي چې پر یوه پاڼه یا هر څه چې وي د اته عدد ولیکي. |
| سم ځواب | زده کوونکی په عدد لیکي: ۸ |

| | |
|---|---|
| دوهمه پوښتنه | خپل نوم ولیکه |
| د پوښتلو طریقه | ښوونکی له هر زده کوونکي څخه پوښتنی چې پر یوه پاڼه خپل نوم ولیکه. |
| سم ځواب | په سمه توګه د خپل نوم لیکل. |

| | |
|---|---|
| دریمه پوښتنه | د خپل ولایت نوم ولیکئ. |
| د پوښتلو طریقه | ښوونکی زده کوونکي ته وایي: د کوم ولایت یاست کولی شي نوم یې ولیکی. |

| | |
|---|---|
| سم ځواب | دخپل ولایت نوم سم لیکل. |

### ۵. د ژوند د نورو معلوماتو برخې پوښتنې:

دا برخه درې پوښتنې لري چې د لاندې لارښونو پر بنسټ باید وپوښتل شي:

| لومړۍ پوښتنه | اسلام څو بناوې لري؟ |
|---|---|
| د پوښتلو طريقه | ښوونکی د زده کوونکي څخه پوښتنه کوي، کولای شي ووايي چې اسلام څو بناوې لري؟ |
| سم ځواب | زده کوونکی وايي: پنځه |
| دوهمه پوښتنه | د نس ناستې د مخنيوې دپاره باید څه وشي؟<br>۱. خپل لاسونه په پاکو اوبو او صابون ومینځل شي، میوه او ترکاري ترخوړلو مخکې پاک ومینځې.<br>۲. د نس ناستې د درملو څخه کار واخلې. |
| د پوښتلو طريقه | ښوونکی د زده کوونکي څخه پورته پوښتنه کوي او ورسره ورکړل شوې دوه ځوابونه هم ورته لولي او د زده کوونکو ته وايي چې کوم ځواب سم دی؟ |
| سم ځواب | لومړی ځواب سم دی. |

| دریمه پوښتنه | د چاپیریال پاک ساتنه د چا دنده ده؟ |
|---|---|
| | **۱.** د ښاروالۍ<br>**۲.** د خلکو او ښاروالۍ |
| د پوښتلو طريقه | ښوونکی د زده کوونکي څخه پورته پوښتنه کوي او ورته وايي چې زه دوه ځوابونه درته وايم ته سم ځواب وټاکه. |
| سم ځواب | زده کوونکی په خوله وايي: دوهم ځواب (خلکو او ښاروالۍ) |

## ۷- د تشخیصی ارزونې پایلي څه ډول ثبت او څه ډول راپور ورکړل شي؟

(۱) د تشخیصی ارزونې پایلې څه ډول ثبت شي؟

*تشخیصی ارزونې دپایلو د ثبت جدول په (۲) ضمیمه کې وګورئ.*

د دې ارزونې د پایلو تر ثبت مخکې اړتیا ده چې ددې ارزونې د پایلو د ثبت جدول برخې وپېژني:

- د ولایت، ولسوالۍ او کلي نوم: په دې برخه کې دې د ولایت، ولسوالۍ او کلي نوم ولیکل شي چې د لیک لوست زده کړې کورس پکښې دی.
- د ارزونکو نومونه: په دې برخه کې هغه کسان خپل نومونه لیکي چې ارزونه کوي.
- دنده: دلته باید ارزونکی خپله دنده ولیکي.
- د ارزونې نیټه: په دې برخه کې د زده کوونکو د پیل ارزونې تر سره کولو نیټه لیکل کیږي.

مخکي چې مو هم یادونه وکړل، ښوونکی د زده کوونکي څخه پوښتنه کوي او پایله یې د ارزونې د پایلو په جدول کې لیکي (که نظارت کوونکي وي کولای شی هغه ځوابونه ثبت کړي). د هري پوښتنې د ثبتولو د څرنګوالي په اړوند نور بیان په لاندي ډول دئ:

۱. د زده کوونکي نوم: د زده کوونکي نوم ولیکئ.

۲. د پلار نوم: په دې برخه کې د زده کوونکي د پلار نوم ولیکئ.

۳. عمر: د زده کوونکي عمر ولیکئ.

۴. جنس: ولیکئ چې نر دئ که ښځه؟

۵. مورنۍ ژبه: هغه ژبه چې په کور کې خبري په کوي ولیکئ لکه پښتو، دري او نور....

٦. د زده کړې کچه: که زده کوونکی ښوونځی لوستې وي، پوښتنه وکړئ چې څو ټولګي یې لوستي دي؟ او که یې نه وی لوستی (نه) وټاکئ.

۷. دنده: د زده کوونکي اوسنۍ دنده ولیکئ لکه: د کور ښځه، دکاندار، مستري، ګنډونکی، د دولتي ادارو کارمند او نور.

۸. ولي غواړئ د لیک لوست زده کړی کورس ته شامل شئ؟

په دې برخه کې هغه لامل ولیکئ چې نوموړی زده کوونکی ولي غواړي د لیک لوست زده کړي کورس ته راشي.

- ➢ د کتابونو لوستل، قرآن مجید، لوحې، لیکونه، رسیدونه او نور.
- ➢ د لیکونو لیکل، د فورمو ډکول، د رانیولو توکیو نوم لړ.
- ➢ د عددونو او شمیرنو زده کړه: د ګرځنده تلیفون څخه کار اخیستل، د رانیولو په وخت کې د پیسو شمیرل، د کورنۍ د عاید او لګښت لیکل او نور.
- ➢ د ژوند د نورو برخو زده کړه لکه: دیني، روغتیایي او کسبي وړتیاوي.

۹. ریاضي

۱۰. لوستل

۱۱. لیکل

۱۲. د ژوند نور معلومات

د تشخیصی ارزونې د ثبتولو جدول د (۹-۱۲ شمېرې) پورې وګورئ.

| شمیره | ۱. د زده کوونکي نوم | ۲. د پلار نوم | ۳. عمر | ۴. جنس | ۵. مورنۍ ژبه | ۶. هغه ټولګي چې پوره کړي یې ته دي | ۷. دنده | ۸. ولي غواړي چې د لیک لوست زده کړې کورس ته راشي | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | پایله | |
| | ۹. ریاضي | لومړۍ پوښتنه: □ سم □ تېروتنه | دوهمه پوښتنه: □ سم □ تېروتنه | | | دریمه پوښتنه: □ سم □ تېروتنه | | | ۱۳. کتني |
| | ۱۰. لوستل | لومړۍ پوښتنه: □ سم □ تېروتنه | دوهمه پوښتنه: □ سم □ تېروتنه | | | دریمه پوښتنه: □ سم □ تېروتنه | | | |
| | ۱۱. لیکل | لومړۍ پوښتنه: □ سم □ تېروتنه | دوهمه پوښتنه: □ سم □ تېروتنه | | | دریمه پوښتنه: □ سم □ تېروتنه | | | |
| | ۱۲. د ژوندانه نور معلومات | لومړۍ پوښتنه: □ سم □ تېروتنه | دوهمه پوښتنه: □ سم □ تېروتنه | | | دریمه پوښتنه: □ سم □ تېروتنه | | | |

د دې ارزونې د فورم هره برخه درې پوښتنې لري: لومړۍ، دوهمه او دریمه چې په پورته جدول کې هم ښودل شوي، راځئ چې د جدول د ریاضي برخه د بیلګې په ډول کار وکړو:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۹. ریاضي | لومړۍ پوښتنه: □سم □تیروتنه | دوهمه پوښتنه: □سم □ تیروتنه | دریمه پوښتنه: □سم □ تیروتنه | |

د ریاضي د برخې لومړۍ پوښتنه، د منو تصویرونه شمیرل دي.

که زده کوونکي وکړای شو چې سم ځواب ووايي، په دغه خانه کې داسې نښه ولیکئ:

لومړي پوښتنه: سم☑ تیروتنه □

او که یی ځواب غلط وي د تیروتنه خانه یې په نښه کړئ:

لومړي پوښتنه: سم□ تیروتنه ☑

د ریاضي د برخې د دوهمې پوښتنې په هکله زده کوونکی ته په خوله وویاست: ۲۴ او ۱۰ څو کیږي؟

د دې پوښتنې سم ځواب ۳۴ دئ. زده کوونکی په خوله ځواب وايي.

که یې سم ځواب ووایه، سم خانه په نښه کړئ. لومړي پوښتنه: سم☑ تیروتنه □

که یې ځواب سم نه وي د تیروتنه خانه یې په نښه کړئ: دویمه پوښتنه: سم□ تیروتنه ☑

د ریاضي د برخې دریمه پوښتنه وايي: که د ۳۸ څخه ۲۸ وباسو، څو پاتیږي؟

سم ځواب ۱۰ دئ چې زده کوونکی یې په خوله وايي.

که زده کوونکی وکړای شي چې سم ځواب ووايي، سم په نښه کړئ: دریمه پوښتنه: سم☑ تیروتنه □

که یې ځواب غلط وې د تیروتنه خانه یې په نښه کړئ: دریمه پوښتنه: سم□ تیروتنه ☑

کله چې مو څلورو واړو برخو پوښتنې پاي ته ورسولې اود (✓) نښې په وسیله وښودلې، وروسته د هرې برخې د سمو ځوابونو د شمیر پر بنسټ د هر زده کوونکي پایله د هرې وړتیا (ریاضی، لوستل، لیکل او نورو معلوماتو برخو) کې په لاندې ډول وټاکئ:

- ➢ که یو زده کوونکي وکولای شول ۳ واړه پوښتنې سم ځواب کړي نو پایله یې " ډیر ښه" ولیکل شي.
- ➢ که یې یوازې ۲ ځوابونه سم وي نو پایله یې " ښه" ولیکل شي.

- او که یې ۱ ځواب سم وي، پایله کې دي " ضعیف" ولیکل شي.
- که هیڅ یوه پوښتنه سم ځواب نکړي، پایله یې" ډیر ضعیف" ولیکل شي.

که مو د وخت د لږ والي له کبله ونه کړای شول چې د دې ارزونې د پایلو پربنسټ د هر زده کوونکي  پایله وټاکئ کولای شئ کله چې مو ټولو زده کوونکو نه پوښتنې پاي ته ورسولي کړي بیا یې ترسره کړئ.
موږ کولای شو د ١٦ زده کوونکو نومونه د ارزونې د پایلو ثبتولو په پاڼه کې ولیکو، نو ځکه تاسي باید دومره د پایلو ثبت پاڼې ولرئ چې د ټولو زده کوونکو دپاره ورسیږي.
۱۳. کتنې: که ښوونکی کوم نظر ولري، د هر زده کوونکي د ارزوني په دغه برخه کې یې باید ولیکي.

(۲) د پیل ارزونې پایله څه ډول او چا ته گزارش ورکړو؟
ښوونکی دې د پایلو د ثبت پاڼه د ځان سره ټولگي ته د لوست ورکولو ترپایه وساتي، ترڅو د لوست په بهیر کي ورڅخه گټه واخلي.
ښوونکي باید د پیل ارزونې د ترسره کیدو خبر له څارونکي سره شریک او د پایلو او د لازمو لارښونو غوښتنه ورڅخه وکړي.

## ۸- د تشخیصی ارزونې پایلو څخه څرنگه کار واخیستل شي؟

د تشخیصی ارزونې په پایله کې ښوونکي د هر زده کوونکي د پوهې او معلوماتو په کچه په بیلو وړتیاوو لکه ریاضی، لوستل، لیکل او د ژوند د نورو معلوماتو برخو کې پوهیږي، او د همدې پایلې پر بنسټ زده کوونکو ته په اغیزمن ډول لوست ورکړي.
کله چې څارونکی د لیک لوست زده کړې له کورس څخه څارنه کوي، نو د ښوونکي څخه دې د زده کوونکو د پیل ارزونې د پایلو جدول غوښتنه وکړي، ترڅو وکولاي شي د زده کوونکو پرمختگ په هره برخه کې ځانته معلوم او د دې اروزنې له پایلو سره یې پرتله کړي. اړتیا نشته چې د دې ورودی ارزونې پایلو د ثبت جدول د لیک لوست زده کړی مدیریت کې وساتل شي.
هغه ټکې چې باید ښوونکي یې د پیل ارزونې د پایلو پر بنسټ په پام کې ونیسي:

(۱) که په یوه ټولگی کې د بیلو سویو لرونکي زده کوونکي وي:

- ښوونکی باید د ارزونې د پایلو پر بنسټ هر زده کوونکی په بیل بیل ډول زده کړي ته وهڅوي.
- ښوونکی دې زده کوونکي مینې او پیرزوینې ته وهڅوي چې په ټولگی کې یو د بل سره مرسته وکړي.
- په گروپي کارونو کې پوه زده کوونکي په هر گروپ کې راولي.
- که لازمه وي او یا هم د پوه زده کوونکو په خوښه دوی ته یو څه زیات تمرینونه ورکړي.

(۲) که د زده کوونکي درجه په یوه وړتیا کې "ډیر ښه" او په بله برخه کې  "ضعیف" یا "ډیر ضعیف" وي:

د بیلګې په توګه د لوستلو په برخه کې یې پایله "ډیر ښه" مګر په ریاضي کې "ډیر ضعیف"، د ژوند په نورو معلوماتو کې " ښه" او په لیکلو کې یې پایله "ضعیف" وي په دې وخت کې ښوونکی د زده کوونکو وړتیاوو ته پام وکړي او په هغو برخو کې دې ډیر تمرینونه ورکړي چې دوی په هغه وړتیاوو کې ضعیف وي، ترڅو یې په هغه برخه کې ډیر ښه والی راشي.

## د پام وړ ټکي:

د لیک لوست زده کړې ټولګیو په ترتیب او تنظیم کې باید د لیک لوست زده کړو معینیت قوانین، لایحې په پام کې ونیول شي، او همدارنګه کولای شو د زده کوونکو د پیل ارزونې پایلې هم په کښنې د اړتیا په وخت کې په پام کې ونیسو.

*لاندې د ځینو حالاتو بیان کیږي چې کیدای شي ښوونکی او نظارت کوونکی د کار په مهال ورسره مخ شي:*

که یو زده کوونکی د پیل ارزونې د فورم ټولو پوښتنو ته سم ځوابونه ووایي، په دې مانا چې په هر برخه کې (ډیر ښه) واخلي، باید د ده په هکله څه وشي؟

- د لیک لوست زده کړې معینیت د مقرراتو او لایحې پربنسټ نوموړي زده کوونکي کولي شي د نورو زده کوونکو سره یو ځای په یو ټولګی کې لوست پیل او د کورس ترپایه ادامه ورکړي، او بلاخره که چیري وکړای شي چې په ارزونه کې ښه نمره واخلي او ټولګي کې معینه حاضري ولري نو په دې صورت کې کولی شي د لیک لوست زده کړې کورس تصدیق پاڼه ترلاسه کړي او همدارنګه د یو لایق زده کوونکي په څیر له ښوونکي سره یوځای نورو زده کوونکو سره مرسته هم کولای شي.

که یو زده کوونکی د پیل ارزونې په یو ځواب کې تیروتنه ولري په دې مانا چې (ښه، ضعیف او ډیر ضعیف) درجه یې اخیستې وي په دې اړوند څه وشي؟

- که د زده کوونکو شمیر د یو کورس دپاره پوره وي نو باید د دې ارزونې پایلې په پام کې ونه نیسو او ټول زده کوونکي په یوه ټولګی کې یو ځای کړو.
- که د زده کوونکو شمیر د دوو ټولګیو دپاره پوره وي نو ښوونکی کولای شي یوه ټولګی د لوړی سویې چې پایله یې (ډیرښه) یا (ښه) وي او بل ټولګی د کښته سویې لرونکو زده کوونکو دپاره د ( ضعیف) او (ډیرضعیف) پایله لرې وټاکي. که یو زده کوونکي د (ښه) پایله اخیستې وي مګر په یوه برخه کې یې د بیلګې په توګه د ریاضي یا لوستلو یا لیکلو او یا د ژوند وړتیاوو کې (ډیر ضعیف) پایله اخیستئ وي باید په کښته سویه کې په پام کې ونیول شي. د سواد زده کړې زده کوونکي په ژوند کې ډیري ستونزې لري نو ځکه د کورس وخت د زده کوونکو ټاکلو کې باید د دوی ستونزې په پام کې ونیسو.

**څلورم څپرکی**

# د اساسي او ورپسې لیک لوست زده کړې کتابونو معیاري ارزونې

## ۱- ټولیز معلومات:

د لیک لوست زده کړې پروګرام ټوله موده ۹ میاشتې ده، چې په دې نهو میاشتو کې د اساسي او ورپسې لیک لوست زده کړې دواړو کتابونو لوستونه ورکول کیږي.
د لیک لوست زده کړې اساسي کتاب: دا کتاب ۱۰۸ لوستونه او ۳٦ تمرینونه لري چې په ٦ میاشتو کې بشپړیږي.
د ورپسې لیک لوست زده کړې کتاب: دا کتاب تر اساسي کتاب وروسته لوست ورکول کیږی او درې سویې لري، دا کتاب ۳٦ موضوع ګانې لري چې په هره موضوع کې یې مختلف شمیر لوستونه راوړل شوي دي چې په ۷۲ ورځو (دري میاشتو) کې یې لوست ورکول کیږي.
د لوست ورکولو په بهیر کې ښوونکي غواړی چې د خپل زیار پایلي او هغه ګټور بدلونونه چې د زده کوونکو په کړو وړو کې راغلي وي معلوم کړي، ځکه نو د زده کوونکو د معلوماتو، وړتیاوو، ذهنیت او لاس ته راوړنو د معلومولو دپاره ارزونه کیږي. دا ارزونه د منل شویو ملي او نړی والو قابلیتونو پر بنسټ چې په ښوونیز نصاب کې شته جوړه شوي ده. د دې ارزونې په وسیله دا معلوموو چې آیا زده کوونکو دا معیارونه پوره کړي دي که نه؟

## ۲- د لیک لوست زده کړې پروګرام کې د زده کوونکو معیارې ارزونې:

په دوهم څپرکي کې مو د ارزونې په هکله بیلابیلې موضوعګانې ولوستلې، په دې برخه کې به د ۹ میاشتو په بهیر کې د لیک لوست زده کړي د زده کوونکو د فعالیتونو د معیاري ارزونې په هکله خبري وکړو.
د زده کوونکو د معیاري ارزونې مهمې ځانګړتیاوې:

- پوښتنې د لیک لوست زده کړې د ښوونیز نصاب پربنسټ جوړې شوي دي.
- په ټاکلو وختونو کې ترسره کیږي.
- د کارپوهانو په وسیله جوړې او د واک لرونکو مقامونو له خوا اعتبار او مشروعیت ورکول کیږي.
- په ټول هیوا کې د یو ډول پوښتنو په توګه کار ځینې اخیستل کیږي.

د زه کوونکو د تشخیصی ارزونې سربیره د لیک لوست زده کړې پروګرام په بهیر کې درې معیارې ارزونې په پام کې نیول شویدي:

۱. لومړی ارزونه: د اساسي کتاب د ۵۴ لوست څخه وروسته (د کورس د پیل څخه درې میاشتې وروسته ترسره کیږي).

۲. دوهمه ارزونه: د اساسي کتاب تر پای ته رسیدو (د ۱۰۸ لوست) څخه وروسته یا د کورس د پیل څخه ٦ میاشتي وروسته ترسره کیږي.

۳. دریمه ارزونه: د ورپسې لیک لوست زده کړي کتاب تر پای ته رسیدو وروسته یا د کورس د پیل څخه ۹ میاشتی وروسته ترسره کیږي.

**۳- د ارزونې موخې:** د لیک لوست زده کړې په پروګرام کې د زده کوونکو د لاس ته راوړنو ارزونې په ښوونکي او زده کوونکو پور اړه لری چې په لاندي ډول دي:

د ښوونکي دپاره د معیاري ارزونو موخې:

۱. د زده کوونکو د زده کړې وړتیاوو، ذهنیت او لاسته راوړنو د کچې معلومول.

۲. د زده کوونکو د پوهي او وړتیاوو د کچې لوړول او هغه زده کوونکو ته ډیر پام او مرسته چې تر نورو وروسته پاته دي.

۳. ښوونکی د ارزونې د پایلو څخه ځان هم ارزوي او د لوست میتود لاهم پیاوړی او اغیزمن کوي.

د زده کوونکو دپاره د معیاري ارزونو موخې:

۱. زده کوونکي د خپلي زده کړي کچه پیژني.

۲. زده کوونکي چې خپله د زده کړي کچه وپیژني نور هم خوښیږي او هڅول کیږي.

۳. د لیک لوست زده کړي د معینیت د لایحې له مخې د ارزونې د پایلو سره سم زده کوونکو ته تصدیق پاڼه ورکول کیږي.

## ۴- ارزونه څوک؟ چیرې؟ او څه وخت؟ او په څومره وخت کې ترسره کوي؟

**څوک؟** د لیک لوست زده کړي د کورس ښوونکی او که ښوونکی نه وي د نظارت مسلکی غړی یا نور اړوند کسان یې ترسره کوي.

**چیري؟** د لیک لوست زده کړي په کورس یا بل مناسب ځای کې.

**څه وخت؟**

لومړی ارزونه: د اساسی کتاب د ۵۴ لوست څخه وروسته

دوهمه ارزونه : د اساسی کتاب په پای کي

دریمه ارزونه: د ورپسی لیک لوست زده کړی کتاب په پای کې

**د ترسره کیدو موده؟**

لومړۍ، دوهمه او دریمه هر یوه ارزونه په دوه نجومي ساعتونو (۱۲۰ دقیقو) کې ترسره کیږي.

- ☜ د ټولګی تنظیم او ترتیب: ۱۰ دقیقې
- ☜ تحریري یا د لیکنې د ارزونې وخت: ۴۰ دقیقې
- ☜ تقریري یا په خوله د ویلو ارزونې وخت: ۷۰ دقیقې

**یادونه:**

- ښوونکی د اړتیا سره سم د تحریري یا تقریری ارزونې وخت ډیرولای یا لږ کولای شي.
- که په ټولګی کې د زده کوونکو شمیر زیات وي، نو ښوونکي کولی شي پریکړه وکړي چې د تقریرې برخې ارزونه په همدې ورځ ترسره کړي او یا یې سبا ورځې ته پریږدي.

## ۵- د لومړۍ، دویمې او دریمې ارزونې د ترسره کولو پړاونه:

**لومړی پړاو- تر ارزونو مخکې د اړتیا وړ ځینې توکو چمتو کول:**

- ☜ د اساسی کتاب د ۵۴ او ۱۰۸ لوست له تدریس څخه مخکي د ارزونې ورځ وټاکئ او زده کوونکي پرې خبر کړئ.
- ☜ زده کوونکو ته د دوی د اړتیا په کچه د دې ارزونې په هکله معلومات ورکړئ، د بیلګې په ډول داسي ووایاست چې ارزونه یوازې ستاسي د لوستلو، لیکلو، ریاضي او د ژوند نورو معلومات د کچې معلومولو په هکله ده، دا ارزونه ناکامي نه لري، که څوک لږ نمره وړي ناکام یا بې پایلي نه دئ بلکه د دوی سره ډیر زیار باسو چې د پوهي او وړتیاوو کچه یې ژر لوړه شي.
- ☜ ښوونکی دې د اساسي کتاب د ۵۴ لوست ، ۱۰۸ لوست او د ورپسې لیک لوست زده کړي د کتاب د پای ته رسولو څخه مخکې، د نظارت کوونکي سره په دې هکله وینې، اود هغه پر مرسته دي لاندې توکي چمتو کړي:
    - د اړوند سویې د ارزونې د پوښتنو پاڼه.
    - د پایلو د ثبتولو جدول.
    - تخته، تخته پاک، تباشیر او قلم.
- ☜ د اړوند ارزونې محتوا په دقیق ډول سره مطالعه او ځان پرې پوهه کړئ.
- ☜ د ارزونې لارښود کتاب کې اړوند برخې ولولئ.

☜ زده کوونکو ته وواياست چې د ارزونې په وخت کې قلم، کتابچه يا سپينه پاڼه له ځان سره ولري.

***يادونه*** : که د ارزونې په ورځ یو يا څو زده کوونکي ډېر وروسته را ورسيدل او يا څوک غير حاضر وي، نو ارزونه يې بله ورځ ترسره کړئ. د ارزونې په ورځ لوست نه ورکول کيږي، مګر که څوک پوښتنې ولري، ځوابونه يې ورته وواياست.

**دوهم پړاو:  د ارزونې ترسره کولو طريقه:**

**د لومړی، دويمې او  دريمې ارزونې پوښتنې دوې برخې لري:**

**الف: تحريري يا د ليکنې برخه**

**ب: تقريري يا په خوله د ويلو برخه**

**لومړی تحريري او وروسته تقريري برخه ترسره کيږي.**

**که زده کوونکي وواييي چې نن تحريري او سبا به تقريري ارزونه ترسره کړو، بايد ښوونکی يې ورسره ومني ځکه غير رسمي زده کړې د زده کوونکو په سلا مشوره دي او بدلون منونکي دي.**

**الف: تحريري يا د ليکنې برخه**

د ليکلو او حساب برخو پوښتنې په تحريري ډول ترسره کيږي، هره برخه ۵ پوښتنې لري چې ټولي ۱۰ پوښتنې کيږي.

**وخت:  ۴۰ دقيقې**

**ددې لپاره چې د لومړی ، دوهمې او دريمې ارزونې د هرې پوښتنې لپاره ټاکلې شوي وختونه وګورئ  نو په ترتيب سره ((۴۱)، (۴۹) او (۵۸)  مخونه ولولئ.**

**د تحريري  برخې د ترسره کولو طريقه:**

**۱-  زده کوونکي يو د بل څخه په يو سم واټن کې تنظيم کړئ چې ونشي کولی يو دبل پاڼې ووينې ترڅو يې د زده کړې او وړتياوو اصلي کچه معلومه شي، که ټولګي کې د ځای ستونزه وي نو:**

- **د امکان ترحده کوښښ وکړئ چې د تحريري برخې ارزونې لپاره يو پراخ ځای پيدا کړئ.**

- زده کوونکي وهڅوئ چې ځوابونه په خپله ولیکي او یو د بل پاڼو ته ونه ګوري، څکه غواړو چې ستاسو د زده کړې او پرمختګ اصلی کچه معلومه کړو.



۲- د دوی څخه وغواړئ چې سپینه پاڼه، قلم او کتابچه د ځان سره چمتو کړي.

***یادونه*** : زده کوونکو ته ووایاست چې د خپلو پاڼو پرسر خپل نومونه ولیکي او که په دې هکله کومه ستونزه وي مرسته ورسره وکړئ.

۳- زده کوونکو ته د ځوابونو لیکلو په هکله معلومات ورکړئ، او ورته ووایاست چې د لیکلو او ریاضي برخو کې پوښتنې دي، زه به پوښتنه یا تاسو ته لولم او یا به یې پرتخته درته لیکم، تاسو به د هرې پوښتنې ځوابونه په ترتیب سره په خپلو پاڼو یا کتابچو کې لیکي مثلا په دې ډول ۱ ځواب، ۲ ځواب، ۳ ځواب او....

***یادونه*** : اړتیا نشته چې زده کوونکي د پوښتنې متن په خپلو پاڼو کې ولیکي، یوازې د ځوابونه لیکل کافی دي. د مثال په ډول د دوهمی ارزونې د لیکلو برخې لومړي پوښتنه داسې دي: (د څلور ډوله میوو نومونه ولیکئ). زده کوونکي باید یوازې د څلور ډوله میوو نومونه ولیکی، نه د پوښتنې متن.

۴- د لیکلو د برخې پوښتنې په لارښود کتاب کې د ورکړل شویو لارښوونو سره سم ترسره کړئ او د زده کوونکو څخه وغواړئ چې پر خپلو پاڼو یې ځوابونه ولیکي، دا یادونه ورته وکړئ چې ډیر په غور سره هرې پوښتنې ته غوږ ونیسي اول ځان ښه پوه کړی وروسته یې ځواب ولیکئ. د هرې پوښتنی وخت،


طریقه او نمره ورکول په (۴۱)، (۴۹) او (۵۸) مخونو کې په ترتیب سره د لومړۍ، دویمې او دریمې ارزونې لپاره ولولئ.

۵- د هرې پوښتنې د حل لپاره زده کوونکو ته پوره وخت ورکړئ چې ځواب یې ولیکي.

***یادونه***: د هرې پوښتنې وخت په لارښود کتاب کې ذکر شوي، نو د هرې پوښتنې د پوښتلو په وخت کې باید ښوونکي نومړی وخت په پام کې ونیسی. که زده کوونکو وکولی شول چې پوښتنه په لږ وخت کې حل کړی هم سم دي، تاسو کولي شئ بلي پوښتني ته ولاړ شئ.

زده کوونکو ته ووایاست چې د لیکلو تر برخې وروسته په خپلو پاڼو کې یوه کرښه وکاږئ چې د لیکلو او حساب برخو ځوابونه سره بیل کړي.

۶- بیا د ریاضي برخې پوښتني د لارښود کتاب د لارښوونو سره سم ترسره کړئ.




د لومړۍ، دویمې او دریمې ارزونې د ریاضی برخې د څلورګونو عملیو پوښتنو سره ځینې جملې راوړل شویدي، ددې ډول پوښتنو پر وخت دې ښاغلی ښوونکی دې نومړی جمله ولولي، اړونده سوال دې پر تخته ولیکي او زده کوونکو ته دې ووایي چې سوال له تختې څخه په خپلو پاڼو کې ولیکی او بیا دې حل کړي. (لکه چې په شکل کې ښوودل شوي).

۷- د تحریری برخې تر پوښتنو وروسته د ټولو زده کوونکو څخه د ځوابونو پاڼې راټولې کړئ.


## ب: تقریري یا په خوله د ویلو برخه

د لومړۍ، دوهمې او دریمې ارزونې د لوستلو برخې پوښتنې په تقریري ډول ترسره کړئ.

د ترسره کیدو موده: ۷۰ دقیقې،
ښوونکی کولای شي د اړتیا په وخت کې د تحریري یا تقریري ارزونې وخت لږ یا ډیر کړي.


**د اړتیا وړ توکي:**

۱. **د اړوند ارزونې پوښتنې: که لومړي ارزونه ترسره کوي نو باید د لومړۍ ارزونې د لوستلو برخې پوښتنو څخه کار واخلی او په همدي ډول د دوهمي او دریمي ارزونې پر وخت د نومړو ارزونو د لوستلو برخو پوښتنې له زده کوونکو څخه وپوښتئ.**




په دې شکل کې تاسوسره د ننګرهار او بلخ ولایتونو د ښوونکو له خوا یو ښه تجربه شریکوو چې د لومړۍ ارزونې د لوستلو برخې پوښتنې یې په فلش کارتونو کې لیکلی او له زده کوونکو څخه یې پوښتلی.

۲. **د زده کوونکو د تحریري برخې د ځوابونو پاڼې: دا پاڼې چې له هر زده کوونکی څخه یې راټولوي د نومړۍ زده کوونکی د تقریري برخې د نمرو ورکولو لپاره یې وکاروئ. لکه چې په شکل کې یې ګوري.**




۳. **د ارزونې د پایلو ثبتولو جدول.**

۴. **قلم**

**تقریري ارزونې د ترسره کولو طریقه:**


- د تحریري برخې تر پای ته رسیدو وروسته زده کوونکو ته ووایاست چې پر خپلو ځایونو کښېني.
- وروسته هر زده کوونکی د تحریري پاڼې دنوبت له مخې راوغواړئ او د لوستلو برخې پوښتنې ورڅخه پیل کړئ.

***یادونه*** : ښاغلی ښوونکی مخکې له دې چې زده کوونکي یو یو د تقریري برخې لپاره راوغواړئ، ځانته مناسب ځای وټاکی چې نور زده کوونکي ونشي کولای ستاسی سوال او ځواب واوري.



- د لوستلو برخې ټولي پوښتني باید له هر زده کوونکی څخه د لارښوونو سره سم ترسره شي (د لومړی، دویمي او دریمي ارزونې پوښتني د لارښونو لپاره په ترتیب سره (۴۱)، (۴۹) او (۵۸) مخونه ولولئ).
- د هر زده کوونکي د تقریری ارزوني سم او ناسم ځوابونه د دوی په تحریری پاڼو کې ولیکئ لکه: لومړی پوښتنه (۲ نمرې)، دوهمه پوښتنه (۰)، پنځمه پوښتنه (۲ نمرې)...او په دې ډول ترپایه.

د هر زده کوونکی د لوستلو برخې نمرې باید د نومونړی د تحریري پاڼې پرسر یادداشت شي. (لکه چې په شکل یې گورئ)



> ***یادونه*** : ددې لپاره چې د ارزونې بهیر ښه پرمخ ولاړ شي، د هر زده کوونکي څخه د تقریري برخې په پای ته رسیدو له هغه سره مخه ښه وکړئ او ورته ووایاست چې خپل کور یا دندې ته ولاړ شي.

## ٦- د لیک لوست زده کړې زده کوونکو د معیاري ارزونو د پایلو ثبتولو جدول

د لیک لوست زده کړې زده کوونکو هره معیاری ارزونه دوې برخې لري تحریري او تقریري، تاسې کولای شئ چې د هر زده کوونکي د هرې برخې اړوند وړتیاوو (لیکلو، ریاضی او لوستلو) نمرې د پایلو ثبتولو په جدول کې ورسوئ:

د ارزونې د پایلو ثبتولو جدول دپاره (٦) ضمیمه وګورئ.

دلیک لوست معینیت /لیف 2 پروژه

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د پوهنې وزارت
د لیک لوست زده کړې معینیت

**د لیک لوست زده کړې زده کوونکو د معیاري ارزونو د پایلو ثبتولو جدول**

۱- ولایت:(　　) ۲ - ولسوالي:(　　) ۳- کلی (　　) ۴- ښوونکی(　　) ۵- کود نمبر (　　)
٦ - د ارزونې نیټه　لومړۍ ارزونه: (　/　/　) دوهمه ارزونه: (　/　/　) دریمه ارزونه (مابعد): (　/　/　)

**۷- د فراغت درجه: د هر زده کوونکي د نمرو د مجموعې او په ټولګي کې د زده کوونکی د سوبتیا په اساس (لږ تر لږه ښځینه ۱۰۸ او نارینه ۱۲۹ ورځې حاضر ولري) تاکل کیږي.**
لومړۍ درجه (۷۵- ۱۰۰ نمرې)، دوهمه درجه (۵۰- ۷۴ نمرې)، دریمه درجه (۴۹- ۳۰ نمرې)، خلورمه درجه (۲۹-۱)

| پرله پسي شمیره | د سواد آموز شهرت | | د زده کوونکو وړتیاوې | اساسي لیک لوست زده کړې کتاب | | ورپسي لیک لوست زده کړی کتاب | د نمرو مجموعه | د سوب ورځو شمیر | د فراغت درجه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د سواد آموز نوم | د پلار نوم | | لومړۍ ارزونه | دوهمه ارزونه | دریمه ارزونه | | | |
| ۱ | | | لیکل | | | | | | |
| | | | ریاضی | | | | | | |
| | | | لوستل | | | | | | |
| | | | مجموعه | | | | | | |

### د ارزونې د پایلو ثبتولو جدول لاندې برخې لري:

۱- ولایت: په دې برخه کې د ولایت نوم لیکل کیږي.

۲- ولسوالي: په دې برخه کې د ولسوالۍ یا اړوند سیمی نوم لیکل کیږي.

۳- کلی: د هغه کلي نوم چې کورس پکښې دی لیکل کیږي.

۴- ښوونکی: په دې برخه کې د کورس اړوند ښوونکی نوم لیکل کیږي.

۵- کود نمبر: د لیک لوست زده کړې کورس ځانګړې شمیره یا کود باید ولیکل شي.

۶- د ارزونې نیټه: په دې برخه کې د هرې ارزونې نیټه لیکل کیږي چې د اساسي کتاب لومړۍ او دوهمه اروزنه او د ورپسي لیک لوست زده کړې ارزونې بیلې نیټې په پام کې نیول کیږي.

۷- پرله پسي شمیره: په دې برخه کې د هر زده کوونکي د حاضرۍ شماره لیکل کیږي.

۸- د زده کوونکي شهرت: په دې برخه کې د زده کوونکي نوم او د پلار نوم لیکل کیږي.

۹- د زده کوونکو وړتیاوې: د اساسي کتاب د لومړۍ او دوهمې او د ورپسي لیک لوست زده کړي ټولو دری ګونو ارزونو په وسیله د زده کوونکو د لوستلو، لیکلو او ریاضي وړتیاوو کچه معلومیږي.

| پرله پسي شمیره | د سواد آموز شهرت | | د زده کوونکو وړتیاوې | اساسي لیک لوست زده کړي کتاب | | ورپسې لیک لوست زده کری کتاب | د نمرو مجموعه | د سوب ورځو شمیر | د فراغت درجه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د سواد آموز نوم | د پلار نوم | | لومړۍ ارزونه | دوهمه ارزونه | دریمه ارزونه | | | |
| ۱ | | | لیکل | | | | | | |
| | | | ریاضی | | | | | | |
| | | | لوستل | | | | | | |
| | | | مجموعه | | | | | | |

۱۰- د نمرو مجموعه: په دې برخه کې د درې ګونو ارزونو د نمرو مجموعه لیکل کیږي.

لاندې جدول د ۳ ارزونو ټولی نمرې راښیي:

| د لیک لوست زده کړې کتاب | د ارزونې نوم | د هرې وړتیا لپاره ځانګړي شوی نمرې | د هرې ارزونې ټولې نمرې |
|---|---|---|---|
| د اساسي لیک لوست زده کړې کتاب | لومړۍ ارزونه | لیکل: ۱۰<br>ریاضي: ۱۰<br>لوستل: ۱۰ | ۳۰ |
| | دوهمه ارزونه | لیکل: ۱۰<br>ریاضي: ۱۰<br>لوستل: ۱۰ | ۳۰ |
| د ورپسې لیک لوست زده کړی کتاب | دریمه ارزونه | لیکل: ۲۰<br>ریاضي: ۱۰<br>لوستل: ۱۰ | ۴۰ |
| | | **ټولې نمرې** | ۱۰۰ |

د اساسي کتاب لومړۍ او دوهمه ارزونه هرې یوې لپاره(۳۰ ) نمرې ځانګړې شوې چې د لیکلو برخه۱۰ ، د ریاضي برخه ۱۰ او د لوستلو برخه یې هم ۱۰ نمرې لري.

د ورپسې لیک لوست زده کړې ارزونه یا دریمه ارزونه ۴۰ نمرې لري چې د لیکلو برخه ۲۰ نمرې، ریاضي او لوستلو برخې هره یوه ۱۰ نمرې لري، په دې توګه د اساسي او ورپسې لیک لوست زده کړې د درو واړو ارزونو ټوله نمرې "۱۰۰" کیږي.

۱۱- د سوب ورځو شمېر: د لیک لوست زده کړې معینیت د تصدیق پاڼو ورکولو د لایحې پربنسټ هر زده کوونکي باید ټاکلي حاضري په ټولګي کې ولري ترڅو ورته هوکړه پاڼه ورکړل شي. یعنې یوه ښځینه زده کوونکي باید له ۲۱۶ ورځو څخه ۱۰۸ ورځې (۵۰٪) او نارینه زده کوونکي له ۲۱۶ ورځو څخه ۱۲۹ (۶۰٪) ورځې حاضري ولري ترڅو ورته هوکړه پاڼه ورکړل شي، که د ځینو لاملونو یا رخصتیو له امله د تعلیمي کال ورځې له ۲۱۶ څخه کمې شي، نو په دې صورت کې دي د تعلیمي کال د واقعی ورځو د شمیر پر بنسټ د غیرحاضرو ورځو فیصدی پیدا کړای شي.

اړینه ده چې یادونه وکړو هر زده کوونکي کولای شي په ارزونو کې ګډون وکړي، مګر هغه کسان به هوکړه پاڼه ترلاسه کوي چې د ارزونو په نمرو سربیره یې ټاکلي حاضري هم پوره کړې وي.

۱۲- د فراغت درجه: د ورپسې لیک لوست زده کړې یا دریمې ارزونې وروسته کولای شئ د هغه ټولو نمرو مجموعه چې یو زده کوونکي په لومړۍ، دویمه او دریمه ارزونه کې اخیستي پیدا او د فراغت درجه یې د هریو د سوب ورځو شمیر ته په پام سره وټاکئ.

د بیلګې په ډول که یو زده کوونکی د(۷۵-۱۰۰) نمرو پوري اخیستي وي او ټاکلې فیصدی حاضری چې ښځینه وو لپاره ٪۵۰ (۱۰۸ ورځې) او نارینه وو لپاره ٪٦۰ (۱۲۹ ورځې) ده پوره کړي نو د فراغت درجه کې یې لومړی درجه لیکو، او که د نمرو مجموعه یې (۵۰ – ۷۴) په منځ کې وي او ټاکلې فیصدی حاضری ولري نو دوهمه درجه، که یې د (۳۰ - ۴۹)ترمنځ نمرې اخیستي وي او د حاضری فیصدی یې پوره کړې وي دریمه درجه او که یې د نمرو مجموعه تر ۳۰ لږ وي یا یې نمره پوره وي (مثلا ۸۰، ۷۱، ۵۰ ... ) ولې ټاکلې فیصدی حاضری یې نه وي پوره کړي نو څلورمه درجه (تکرارکوونکي) دی

۱۳. لاسلیک: په دې برخه کې د کورس اړوند ښوونکی، د څارنې غړی، د ولسوالی د لیک لوست زده کړی مدیر او د ولایت په کچه د لیک لوست زده کړې آمر باید لاسلیک وکړي او د آمریت مهر هم اړین دي.

لاندې جدول د څو زده کوونکو لپاره د نمونې په ډول ډک شوي تاسې یې وګورئ:

۷- د فراغت درجه: د هر زده کوونکي د نمرو د مجموعی او په ټولګي کې د زده کوونکی د سوبتیا په اساس (لږ تر لږه ښځینه ۱۰۸ او نارینه ۱۲۹ ورځې حاضر ولري)ټاکل کیږي.
لومړی درجه (۷۵- ۱۰۰ نمرې)، دوهمه درجه (۵۰- ۷۴ نمرې)، دریمه درجه (۴۹- ۳۰ نمرې)، څلورمه درجه (۲۹-۱)

| پرله پسې شمیره | د زده کوونکي شهرت: د زده کوونکي نوم | د پلار نوم | د زده کوونکو ورقاوي | اساسي لیک لوست زده کړه: لومړی ارزونه | دوهمه ارزونه | ورپسې لیک لوست زده کړه: دریمه ارزونه | ټوله نمرې | د سوب ورځو شمېر | د فراغت درجه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | شاه پور | جان علی | لیکل | ۸ | ۹ | ۱۸ | ۳۵ | ۱۳۰ | لمړی درجه |
| | | | ریاضی | ۶ | ۸ | ۱۰ | ۲۴ | | |
| | | | لوستل | ۱۰ | ۱۰ | ۷ | ۲۷ | | |
| | | | **ټوله** | **۲۴** | **۲۷** | **۳۵** | **۸۶** | | |
| ۲ | صابر خان | شاه ولی خان | لیکل | ۶ | ۸ | ۱۵ | ۲۹ | ۱۸۹ | دوهمه درجه |
| | | | ریاضی | ۱۰ | ۱۰ | ۸ | ۲۸ | | |
| | | | لوستل | ۸ | ۹ | ۶ | ۲۳ | | |
| | | | **ټوله** | **۲۴** | **۲۷** | **۲۹** | **۸۰** | | |
| ۳ | محبوب‌شاه | رحمت خان | لیکل | ۴ | ۴ | ۹ | ۱۷ | ۲۱۱ | دریمه درجه |
| | | | ریاضی | ۶ | ۴ | ۸ | ۱۸ | | |
| | | | لوستل | ۸ | ۶ | ۴ | ۱۸ | | |
| | | | **ټوله** | **۱۸** | **۱۴** | **۲۱** | **۵۳** | | |
| ٤ | دادخان | جان دل | **لیکی** | ۲ | ۳ | ۳ | ۸ | ۱۸۳ | څلورمه درجه یا تکرار کوونکی |
| | | | **ریاضی** | ۲ | ۴ | ۴ | ۱۰ | | |
| | | | **لوسل** | ۲ | ۳ | ۳ | ۸ | | |
| | | | **ولټ** | **۶** | **۱۰** | **۱۰** | **۲۵** | | |
| | | | نوشتن | | | | | | |

## ۷- د ارزونې د پایلو څخه ګټه اخیستنه

**الف: لومړۍ او دوهمه ارزونه:** وروسته له لیدلو او ښه غور څخه د ځوابونو پاڼې زده کوونکو ته بیرته ورکړئ، د دوی تیروتنې ورته وښایاست چې یې ومني، وروسته یې پاڼې راټولې او د ښوونیز کال تر پایه یې له ځان سره وساتئ. زده کوونکي باید په پاڼو کې څه ونه لیکي.

- ښوونکی د ارزونې د نمرو جدول د ځان سره ساتي په مرسته یې د لوست ورکولو طریقه ښه کولای شي. او دا چې ښوونکي ته څرګنده وي د چا سره په کومو برخو کې مرسته او لارښوونه وکړي؟

ډیر په دوستانه ډول دې پوه زده کوونکي د نورو سره مرستي ته وگمارل شي، او د دې دپاره چې ځینې یې د ځان سپکاوی ونه بولي، دوی ته ښوونکی په دې هکله اړین معلومات ورکړي.

- د ارزونې د پای ته رسولو یو گزارش څارونکي ته ورکړئ.
- د پایلو جدول د ځان سره وساتئ چې د راتلونکی ارزونې پایلي هم پکښې ولیکل شي.
- که د لومړۍ او دوهمې ارزونې وروسته یو زده کوونکی د ستونزو له امله دا زده کړه نوره نه شی غزولای، ښوونکی دې ورته د ارزونې پایلي او نور اسناد د لیک لوست زده کړې د مدیریت په مرسته ورکړي.

**ب: د ورپسې لیک لوست زده کړې کتاب یا دریمه ارزونه:**

- د زده کوونکو د ۳ واړو ارزونو د ټولو نمرو او حاضر ورځو پربنسټ یې درجه وټاکئ.
- زده کوونکو ته د زیاتو زده کړو او لوستلو د گټور والی په هکله خبری وکړئ.
- که تعقیبي توکي لرئ مرسته یې ورسره وکړئ.
- د نمرو جدول د لیک لوست زده کړې مدیریت ته وسپارئ چې د لیک لوست زده کړې د معینیت د لایحې پربنسټ د دوی د فارغ کیدو د هوکړه پاڼې (تصدیق نامې) په هکله په کار پیل وکړي.

## ۸. د لومړۍ ارزونې د پوښتنو فورم

دا فورم د لیکلو، ریاضی او لوستلو برخو کې ۱۵ پوښتنې لري چې د لیکلو او ریاضی برخو ۱۰ پوښتنې په تحریري ډول اوډ لوستلو برخې ۵ پوښتنې یې په تقریرې بڼه له هر زده کوونکي څخه ترسره کیږي.

د لیک لوست معینیت/لیف۲پروژه

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د پوهنې وزارت
د لیک لوست زده کړې معینیت

### لومړۍ ارزونه

**(د لیک لوست زده کړې د اساسي کتاب)**

**الف-تحریري برخه:ښاغلی ښوونکی د لیکلو او ریاضی برخو پوښتنې په تحریرې ډول ترسره کړئ، د تحریرې برخې ترسره کولو وخت ۴۰ دقیقې دي.**

**د لیکلو برخې پوښتنې: دا برخه ۵ پوښتنې لري، هره پوښتنه ۲ نمرې لري، چې ټولې ۱۰ نمرې کیږي.**

ښاغلی ښوونکی: لاندې پنځه پوښتنو څخه هره یوه په جلاجلا توګه زده کوونکو ته درې ځله تکرار کړئ چې په خپلو پاڼو کې یې ولیکي:

| | | |
|---|---|---|
| لومړۍ پوښتنه: | **خپل نوم ولیکئ** | ______ (۲ نمرې) |
| دویمه پوښتنه: | **ژ** | ______ (۲ نمرې) |
| دریمه پوښتنه: | **حق** | ______ (۲ نمرې) |
| څلورمه پوښتنه: | **میز** | ______ (۲ نمرې) |
| پنځمه پوښتنه: | **ثروت** | ______ (۲ نمرې) |

**د ریاضي برخې پوښتنې: دا برخه ۵ پوښتنې لري، هره پوښتنه ۲ نمرې، چې ټولې ۱۰ نمرې کیږي.**

ښوونکی د لومړۍ او دوهمې پوښتنې عددونه په جلاجلا توګه زده کوونکو درې ځله و لولي او له هغوی څخه دې وغواړي چې په خپلو پاڼو کې یې ولیکي:

لومړۍ پوښتنه: ۸ ______ (۲ نمرې)

دوهمه پوښتنه: ۶۹ ______ (۲ نمرې)

دریمه پوښتنه: ښاغلی ښوونکی لاندې د جمعې سوال په تخته ولیکئ او بیا زده کوونکو ته داسې ووایی چې (احمد ۴۲ پسونه درلودل، ۵۳ نورې هم رانیول نو ټول پسونه یې څو دي؟) زده کوونکو ته ووایې چې د جمعې سوال په خپلو پاڼو کې ولیکي او بیا یې حل کړي. ______ (۲ نمرې)

$$\begin{array}{r} ۴۲ \\ + \; ۵۳ \\ \hline \end{array}$$

څلورمه پوښتنه: ښاغلی ښوونکي: د تفریق لاندې سوال په تخته ولیکئ او بیا زده کوونکو ته داسې ووایې چې (فریدې ۸۵ افغانۍ درلودې، په ۷۱ افغانیوې کتابچې رانیولې، څو افغانۍ ورته پاته دي؟) زده کوونکو ته ووایې چې د تفریق سوال له تختې څخه په خپلو پاڼو کې ولیکي او بیا یې ځواب پیدا کړي. ______ (۲ نمرې)

$$\begin{array}{r} ۸۵ \\ - \; ۷۱ \\ \hline \end{array}$$

پنځمه پوښتنه: ښاغلی ښوونکیه: لاندې درې رقمې عدد او درکړل شوي شکل په تخته ولیکي او له زده کوونکو څخه وغواړي چې د نوموړی (درې رقمي عدد هره شمیره په خپلو ځایونو یا خانو کې ولیکي): ______ (۲ نمرې)

**۵۹۴**

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |

**ب- تقریری برخه: ښاغلی ښوونکی د لوستلو برخې پوښتنې له هر زده کوونکي څخه په جلاجلا توګه وپوښتئ (د تقریری برخې ټول وخت ۷۰ دقیقې).**

**د لوستلو برخې پوښتني: دا برخه ۵ پوښتنې لري، هره پوښتنه ۲ نمرې چې ټولې ۱۰ نمرې کیږي.**

**لومړی پوښتنه:** ښاغلی ښوونکی : هر زده کوونکی ته دوه عددونه (یو دوه رقمي او بل درې رقمي) وښیي چې ویې لولي. (۲ نمرې) ______

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۶۸۷ | ۳۱۵ | ۱۱۲ | ۹۱۰ |
| ۶۲ | ۸۵ | ۷۹ | ۱۴ |

**دوهمه پوښتنه:** ښاغلی ښوونکی هر زده کوونکی ته له لاندې درې حرفي کلمو څخه دوه کلمې په خپله خوښه په نښه کړي چې ویې لولي: (۲ نمرې) ______

| | | | |
|---|---|---|---|
| ځان | فکر | بري | کار |
| مشر | وطن | سړی | هوډ |

**دریمه پوښتنه:** ښاغلی ښوونکی هر زده کوونکی ته له لاندې پنځه حرفي کلمو څخه دوه کلمې په خپله خوښه په نښه کړي چې ویې لولي: (۲ نمرې) ______

| | | | |
|---|---|---|---|
| قانون | ولولئ | وساتو | وخورئ |
| راوړي | پاکول | لوړوي | کورنۍ |

**څلورمه پوښتنه:** ښاغلی ښوونکی هر زده کوونکی ته یوازې یوه جمله وښیي چې ویې لولي: (۲ نمرې) ______

| | |
|---|---|
| سابه ګټه لري. | پاکې میوې وخورئ. |
| ځان پاک وساتئ. | ګنډل زده کړئ. |

**پنځمه پوښتنه:** ښاغلی ښوونکی هر زده کوونکی ته یوه د لاندې لوحو څخه وښیي چې ویې لولي: (۲ نمرې) ______

| | |
|---|---|
| دپوهنې وزارت<br>**د نازو انا عالي لیسه** | **محمد خان همدرد**<br>د داخله او ماشومانو ناروغیو<br>داکتر |

## ۹. د لومړۍ ارزونې د پوښتنو اړوند لارښوونې:

ښاغلی ښوونکي ***د لومړۍ ارزونې*** د هرې پوښتني اړوند معلوماتو (د پوښتني وخت، طریقه، سم ځواب او نمره ورکول) په اړه لاندې لارښوونې په پام کې ولرئ:

**د لیکلو برخه:** ۵ پوښتنې لري، هره پوښتنه ۲ نمرې لري، ټولې ۱۰ نمرې کیږي.

| لومړۍ پوښتنه | خپل نوم ولیکئ. |
|---|---|
| وخت | ۳ دقیقې |
| د پوښتنې طریقه | ښوونکی زده کوونکو ته وایي چې هر څوک دې خپل پوره نوم په خپلو پاڼو کې ولیکي. |
| سم ځواب | د زده کوونکي نوم. |
| نمره ورکول | – په پوره ډول د زده کوونکي نوم لیکل = ۲ نمرې.<br>– د زده کوونکي د نوم په لیکنه کې تیروتنه = صفر. |

| دوهمه پوښتنه | ولیکئ (ژ) |
|---|---|
| وخت | ۳ دقیقې |
| د پوښتنې طریقه | ښوونکي د (ژ) توری دوی ته درې ځلي وايي چې زده کوونکی یې په خپلو پاڼو کې ولیکي. |
| سم ځواب | ژ |
| نمره ورکول | - سم ځواب = ۲ نمرې.<br>په ځواب کې تیروتنه = صفر. |

| دریمه پوښتنه | ولیکئ (حق) |
|---|---|
| وخت | ۳ دقیقې |
| د پوښتنې طریقه | ښوونکی د (حق) کلمه درې ځلي دوی ته وايي چې دوی یې په خپلو پاڼو کې ولیکي. |
| سم ځواب | په پوره ډول (حق) لیکل. |
| نمره ورکول | - سم ځواب = ۲ نمرې.<br>- د ځواب تیروتنه = صفر. |

| | |
|---|---|
| خلورمه پوښتنه | ولیکئ (میز) |
| وخت | ۳ دقیقې |
| د پوښتنې طریقه | ښوونکی د (میز) کلمه درې ځلې دوی ته وایي چې دوی یې په خپلو پاڼو کې ولیکي. |
| سم ځواب | د (میز) کلمه پوره لیکل. |
| نمره ورکول | - سم ځواب = ۲ نمرې.<br>- د ځواب تیروتنه = صفر. |

| | |
|---|---|
| پنځمه پوښتنه | ولیکئ (ثروت) |
| وخت | ۳ دقیقې. |
| د پوښتنې طریقه | ښوونکی د (ثروت) کلمه درې ځلې دوی ته وایي چې ویې لیکي. |
| سم ځواب | د (ثروت) کلمه پوره لیکل. |
| نمره ورکول | - سم ځواب = ۲ نمرې.<br>- د ځواب تیروتنه = صفر. |

**د ریاضي برخه:** دا برخه ۵ پوښتنې لري هره پوښتنه ۲ نمرې لري ټوله ۱۰ نمرې دي.

| | |
|---|---|
| لومړی پوښتنه | ولیکئ (۸) |
| وخت | ۲ دقیقې |
| د پوښتنې طریقه | ښوونکی د (۸) عدد درې ځلې ووایې چې زده کوونکي یې په خپلو پاڼو کې ولیکي. |
| سم ځواب | د (۸) عدد لیکل. |
| نمره ورکول | – سم ځواب = ۲ نمرې.<br>– د ځواب تیروتنه = صفر. |

| دوهمه پوښتنه | وليکئ (٦٩) |
|---|---|
| وخت | ۲ دقيقې |
| د پوښتنې طريقه | ښوونکی د (٦٩) عدد درې ځلې دوی ته وايي چې په خپلو پاڼو کې يې وليکي. |
| سم ځواب | د (٦٩) عدد ليکل. |
| نمره ورکول | - سم ځواب = ۲ نمرې.<br>- د ځواب تېروتنه = صفر. |

| دريمه پوښتنه | احمد ۴۲ پسونه درلودل، ۵۳ نورې هم رانيول اوس څو پسونه لري؟<br>۴۲<br>+ ۵۳ |
|---|---|
| وخت | ۵ دقيقې |
| د پوښتنې طريقه | ښوونکی دې د دريمې پوښتنې جملې ولولي او سوال دې پرتخته وليکي او دوی ته دې ووايي چې په خپلو پاڼو کې يې وليکي او بيا يې ځواب لاسته راوړي.<br>۴۲<br>+ ۵۳ |
| سم ځواب | د جمعې حاصل کې د (۹۵) عدد ليکل. |
| نمره ورکول | - سم ځواب = ۲ نمرې.<br>- د ځواب تېروتنه = صفر. |

| څلورمه پوښتنه | فريدې ۸۵ افغانۍ درلودې، په ۷۱ افغانيوې کتابچې رانيولې، څو افغانۍ ورته پاتې دي؟<br>۸۵<br>- ۷۱ |
|---|---|
| وخت | ۵ دقيقې |
| د پوښتنې طريقه | ښوونکی د څلورمې پوښتنې متن ولولي او سوال دې پر تخته وليکي ، له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې په خپلو پاڼو کې يې وليکي او بيا يې حل کړي.<br>۸۵<br>- ۷۱ |
| سم ځواب | د تفريق په حاصل کې د (۱۴) عدد ليکل. |

| | |
|---|---|
| نمره ورکول | - سم ځواب = ۲ نمرې.<br>- د ځواب تېروتنه = صفر. |

| | |
|---|---|
| پنځمه پوښتنه | د لاندې درې رقمي عدد هره شمېره په اړوند ځایونو یا خانو کې ولیکئ:<br>یوېز \| لسیز \| سلیز — ۵۹۴ |
| وخت | ۵ دقیقې |
| د پوښتنې طریقه | ښوونکی دې ۵۹۴ عدد او ورکړل شوئ انځور  په تخته ولیکی او دوی ته ووایې چې د تختې څخه د ۵۹۴ عدد او ورکړل شوئ انځور په خپلو پاڼو  کې ولیکي او وروسته هر عدد یا رقم په خپلو ځایونو کې ولیکي. |
| سم ځواب | یوېز: ۴ \| لسیز: ۹ \| سلیز: ۵ |
| نمره ورکول | - سم ځواب = ۲ نمرې.<br>- د ځواب تېروتنه = صفر. |

**د لیکلو برخه:** ۵ پوښتنې لري، هره پوښتنه ۲ نمرې لری ټوله ۱۰ نمرې کیږي.

| | |
|---|---|
| لومړی پوښتنه | زده کوونکی ته دوه عددونه (یو دوه رقمي او بل درې رقمي) وښیاست چې ویې لولي: |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۶۸۷ | ۳۱۵ | ۱۱۲ | ۹۱۰ |
| ۶۲ | ۷۹ | ۸۵ | ۱۴ |

| | |
|---|---|
| وخت | ۱ دقیقه |
| د پوښتنې طریقه | ښوونکی هر زده کوونکې ته یو دوه رقمی او یو درې رقمي عدد په چوکاټ کې ښیې چې ویې لولي. |
| سم ځواب | په پوره ډول د ښوول شوي عددونو لوستل. |
| نمره ورکول | - دواړه عددونه پوره لوستل = ۲ نمرې.<br>- یو عدد لوستل په پوره ډول = ۱ نمره. |

| | |
|---|---|
| دوهمه پوښتنه | ښوونکی زده کوونکي ته دوې کلمې وښيي چې ويې لولي:<br>ځان \| فکر \| پاک \| کار<br>مشر \| وطن \| سړی \| هوډ |
| وخت | ۱ دقیقه |
| د پوښتنې طريقه | – ښوونکی زده کوونکي ته د جدول څخه ۲ کلمې وښيي چې ويې لولي. |
| سم ځواب | – په پوره ډول دواړه کلمې لوستل. |
| نمره ورکول | - په پوره ډول دواړه عددونه لوستل = ۲ نمرې.<br>- په پوره ډول یو عدد لوستل = ۱ نمره. |

| | |
|---|---|
| دریمه پوښتنه | ښوونکی زده کوونکي ته دوې کلمې وښيي چې ويې لولي:<br>قانون \| ولولئ \| وساتو \| وخورئ<br>راوړې \| پاکول \| لوړوي \| کورنۍ |
| وخت | ۱ دقیقه |
| د پوښتنې طريقه | ښوونکی د چوکات د کلمو څخه زده کوونکي ته ۲ کلمې وښيي چې ويې لولي. |
| سم ځواب | په پوره ډول د وربښودل شويو کلمو لوستل. |
| نمره ورکول | - په پوره ډول دواړه کلمې لوستل = ۲ نمرې.<br>- په پوره ډول یوه کلمه لوستل = ۱ نمره. |

| | |
|---|---|
| څلورمه پوښتنه | ښوونکی زده کوونکو ته یوه جمله وښيي چې ويې لولي:<br>سابه ګټه لري. \| پاکې میوې وخورئ.<br>ځان پاک وساتئ. \| ګنډل زده کړئ. |
| وخت | ۱ دقیقه |
| د پوښتنې طريقه | ښوونکی زده کوونکي ته د پورته جملو څخه یوه جمله وښيي چې ويې لولي. |
| سم ځواب | په پوره ډول ټاکل شوې جمله لوستل. |
| نمره ورکول | - په پوره ډول جمله لوستل = ۲ نمرې.<br>- که يې وکولای شول په جمله کې دوې کلمې سمې ولولي = ۱ نمره. |

| | |
|---|---|
| | - که یوه کلمه هم ونشي لوستلای = صفر. |
| پنځمه پوښتنه | ښاغلی ښوونکی لاندې له لاندې لوحو څخه یوه هر زده کوونکی ته وښیي چې ویې لولي:<br>دپوهنې وزارت<br>**د نازو انا عالي لیسه**<br>**محمد خان همدرد**<br>**د داخله او ماشومانو ناروغیو داکتر** |
| وخت | ۱ دقیقه |
| د پوښتنې طریقه | له هر زده کوونکي څخه یوازې د یوې لوحې پوښتنه وکړې چې ویې لولي. |
| سم ځواب | په پوره ډول د په نښه شوې لوحې لوستل. |
| نمره ورکول | – په پوره ډول لوحه لوستل = ۲ نمرې.<br>– د لوحې یوه جمله په پوره ډول لوستل = ۱ نمره. |

## ۱۰. د دویمې ارزونې د پوښتنو فورم

دا فورم د لیکلو، ریاضی او لوستلو برخو کې ۱۵ پوښتنې لري چې د لیکلو او ریاضی برخو ۱۰ پوښتنې په تحریري ډول اوږد لوستلو برخې ۵ پوښتنې يې په تقریرې بڼه له هر زده کوونکي څخه ترسره کیږي.

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د پوهنې وزارت
د لیک لوست زده کړې معینیت

د لیک لوست معینیت /لیف۲ پروژه

**دوهمه ارزونه**

**(د لیک لوست زده کړې اساسي کتاب)**

**لف-تحریري برخه:ښاغلی ښوونکی د لیکلو او ریاضی برخو پوښتنې په تحریري ډول ترسره کړئ، د تحریرې برخې وخت ۴۰ دقیقې دي.**

**د لیکلو برخې پوښتنې: ښاغلی ښوونکی دا برخه ۵ پوښتنې لري، هره پوښتنه ۲ نمرې لري، ټولې ۱۰ نمرې کیږي. لومړی، دویمه او دریمه پوښتنه زده کوونکو ته ولولئ چې یوازې ځواب يې په خپلو پاڼو کې ولیکي.**

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ښوونکي دی له زده کوونکو څخه وغواړی چې (د څلور ډوله میوو نومونه ولیکئ). | (۲ نمرې) |
| ۲ | ښوونکي دې له زده کوونکو وغواړي چې (د وطن په هکله دوه جملې ولیکئ). | (۲ نمرې) |
| | ښوونکي دې زده کوونکو ته ووايې چې (د کورنۍ یوه غړی ته مو چې د کور څخه لیري دئ، یو لیک ولیکئ). | (۲ نمرې) |
| ۴ | ښاغلی ښوونکی د رخصتی لاندې فورمه په تخته ولیکئ او زده کوونکو ته ووايې چې فرضاً تاسو سبا کورس ته نه راځی، نو د رخصتی دا فورمه په خپلو پاڼو یا کتابچو کې ولیکي او تش ځایونه يې په مناسبو کلمو ډکه کړي.<br>نیټه: (    /    /    )<br>ښاغلي : ښوونکی ته<br>د رخصتی لامل: (    )<br>د رخصتی ورځي: (    )<br>د سوادآموز نوم: (    ) | (۲ نمرې) |
| ۵ | ښاغلی ښوونکي لاندې دوه عددونه په جلا جلا توګه درې ځله زده کوونکو ته تکرار کړه او ورته ووايې چې په خپلو پاڼو کې يې ولیکي:<br>۵۶۹۲ \| ۸۳۱۷ | (۲ نمرې) |

**د ریاضی برخې پوښتنې: دا برخه ۵ پوښتنې لري، هره پوښتنه ۲ نمرې، ټولې ۱۰ نمرې کیږي.**

**ښاغلی ښوونکي: د لومړی، دویمې، دریمې او څلورمې پوښتنې د جملو د لوستلو سره سم اړوند سوال يې په تخته ولیکئ او له زده کوونکو څخه وغواړی چې په خپلو پاڼو کې يې ولیکي او بیا يې حل کړي.**

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | یو بزګر په ۱۳٦۹ افغانی غنم او په ۵۴۲۲ افغانیو وریځي وپلورلې، ووایاست چې دا بزګر څو افغانی لاس ته راوړي دي؟ | ۱۳۶۹<br>+ ۵۴۲۲ | (۲ نمرې) |
| ۲ | محمود ۳۴۵۲ افغانی لري، که ۱۲۱٦ افغانی غریبانو ته صدقه ورکړي، پیدا کړی چې څو افغانی ورته پاته دي؟ | ۳۴۵۲<br>- ۱۲۱۶ | (۲ نمرې) |
| ۳ | فاطمه او میره يې بازار ته ځي چې ماشومانو ته يې د اختر دپاره جامې رانیسي، که د یو متر ټوکر بیه ۵٦ افغانی وي نو ٦ متره ټوکر په څو افغانی رانیول کیږي؟ | ۵۶<br>× ۶ | (۲ نمرې) |
| ۴ | احمد هتۍ لري، غواړي ۲۴ کیلو وریځي په مساویانه ډول ۲ تنو ته ور وویشي، پیدا کړي چې هر یو ته څو کیلو ګرامه وریجي رسیږي؟ | ۲۴ \| ۲ | (۲ نمرې) |
| ۵ | ښوونکی دې له زده کوونکو وغواړی چې یو ساعت څو دقیقې کیږي په خپلو پاڼو کې يې ولیکي؟ | | (۲ نمرې) |

**ب - تقریري ارزونه: ښاغلی ښوونکی د لوستلو برخې پوښتنې په جلاجلا ډول له هر زده کوونکي څخه وپوښتئ، ټول وخت یې ۷۰ دقیقې دي.**

**د لوستلو برخې پوښتنې: دا برخه ۵ پوښتنې لري، هره پوښتنه ۲ نمرې، ټولې ۱۰ نمرې کیږي.**

۱ ښوونکی زده کوونکي ته دوه تصویرونه وښیي چې د هغو نومونه به لیکل شویو کلمو کې پیدا او ویې لولي: (۲ نمرې)





منه

پسه

انګور

چاینکه

غوا

آس





۲ ښوونکی دې زده کوونکی ته یوه جمله وټاکي چې ویې لولي؟ (۲ نمرې)

| | |
|---|---|
| په جماعت لمونځ کول ډېر ثواب لري. | میندې درمل د ماشومانو څخه لیرې وساتي. |
| پاک خواړه د انسان روغتیا ته ګټه لري. | مور د خپلو اولادونو روزنې ته پام کوو. |

۳ ښاغلی ښوونکې د لاندې سرلیکونو څخه دوه وټاکئ چې زده کوونکی یې ولولي او بیا دې د یوه سرلیک په اړوند لږ تر لږه یوه دقیقه خبرې وکړي: (۲ نمرې)

| | | |
|---|---|---|
| حلال | ورزش | د مور شیدې |
| واکسین | نیالګي | سوله |

۴ ښوونکی زده کوونکی ته د لاندې څلور رقمي عددونو څخه دوه عددونه وټاکي چې ویې لولي: (۲ نمرې)

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۶۹۴۲ | ۹۴۶۵ | ۲۸۳۵ | ۸۷۶۰ |

۵ ښاغلی ښوونکی د لاندې جدول څخه په خوله یو عدد وټاکي چې زده کوونکي یې پیدا کړي او بیا ورځه وغواړي چې اړونده ورځ یې په جنتري کې وښایي: (۲ نمرې)

کلیزه

